# وحدت ورځپاڼه - پېښور


مونږ دپاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مددګار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

پیښور
پاکستان

ورځپاڼه
وحدت

ایډیټر
سید هارون شاه

رجسټرډ نمبر ۲۷


فون: 2214154 فیکس: 2214321

بیعه 4 روپۍ

جلد: 31

چارشنبه، 6 ربیع الاول 1427 هـ ق، 23 چیتر 2062 ب
5 اپریل 2006، 16 وری/حمل 1385 هـ ش

شماره: 92

## نومیالے شاعر اوروان شناس ډاکټر کبیر ستورے پحق ورسیدو

**دنوموړی عمر 64 کاله ؤ، جرمنی کښې پرې دزړه دوره راغله، جنازه به ئې کونړ کښې کیږی**

پیښور (وحدت خبر) دپښتوژبې مشهور شاعر او دنفسیاتو ماهر ډاکټر کبیر ستورے پرون په جرمنی کښې دزړهٔ ددورې له امله پحق رسیدلے دے عمر ئې څلور شپیتهٔ کاله ؤ دتیرو څو میاشتو نه دزړهٔ په رنځ اخته ؤ دکبیر ستوری

باقی صفحه 5 کالم 6

**پاتې** ډاکټر کبیر ستورے وفات

تعلق دافغانستان کونړ ولایت سره ؤ اعلی تعلیم ئې جرمنی کښې حاصل کړے ؤ، مرحوم په نفسیاتو کښې دپی ایچ ډی ډګری هم حاصله کړې وه. دجرمن ریډیو کښې ئې زیاته موده ملازمت کړے دے، دپښتوژبې دپاره ئې بنیادی کارونه کړیدی، جرمنی کښې ئې دپښتون سوشل ډیموکریټک پارټی بنیاد اېښودے ؤ اودغلته میشته پښتانهٔ ئې متحد کړی وؤ، افضل خان لاله، محمودخان اچکزی او لطیف اپریدی سره ئې نژدې او ښهٔ تعلقات وؤ، مرحوم پیښور کښې دپښتو عالمی کانفرنس او عالمی کانګرس په دستورو کښې هم شرکت کړے ؤ، ډاکټر کبیر ستوری دشاعری او نفسیاتو دیارلس کتابونه لیکلی دی، مرحوم دوکیل عبدالجلیل کشر ورور ؤ په غم خپلو کښې ئې پنځه زامن بصیر ستورے، نصیر ستورے، نسیم ستورے، کرور ستورے، او ایمل خان ستورے شامل دی. خدای بخښلے ډاکټر کبیر ستورے د پښتو ژبې منلے شاعر، لیکوال او څیړونکے د ډیپلوم سا پوهه په پښتو او پښتونولۍ مئین مشر او دقام رښتینے بچے او خدمتګار ؤ

چې د ... ورځ د ... ۲۰۰۶ عیسوی کال د اپریل د
میاشتې په څلورمه نېټه د سهار په ۵ بجو زموږ څخه د تل له د پاره جدا شو د اروا ښاد جنازه به د هغې په پلرنی هدیره کښې د کونړ ولایت د تڼر په کلی کښې خاوروته سپارل کیږي. (Diplom-Psychologist) ښاغلی ډوکتور کبیر ستورے په هډ پښتون په ټبر میرداد خیل ؤ چې د پښتنو د یوسفزو د پرګنې پورې اړه لری ستوری د لعل محمد خان زوی او د بري پښتونخوا د کونړ د تڼر په کلی کښې پر ۲ اپریل ۱۹٤۲ زیږیدلے ؤ دهٔ خپله لومړنۍ زده کړه د خاص کونړ په لومړنی ښوونځی او په کابل کښې د رحمان بابا په لیسه کښې او خپله لوړه زده کړه د جرمنی د فرانکفورت، کولن او ماربورګ په پوهنتونونو کښې د ساپوهنې په څانګه کښې چې فلسفه سیاسی پوهنه او ټولنپوهنه ورسره مل وؤ سرته رسولې ده. ستوری د پښتنو ټولنیزاولسیز ګوند (پی ایس ډی پی) د بنسټ اېښودونکو مخکښانو څخه دے د شاعرۍ په برخه کښې ئې د یو پر مختللی ادبی بهیر پورې اړه لرله چې مشر نماینده ئې د پښتو د ادب پلار اجمل خټک دے. د پښتنو د یووالی، خپلواکی او سوکالی د پاره دهٔ ته د باچا خان نظریو ژوند وربخښلے ؤ. د اروا ښاد چاپ شوی کتابونه (ویره (د ساپوهنې په رڼا کښې د ویرې نظری پیمانه او درمل) ژوندی خیالونه، (د شعرونو ټولګه د قلم توره، (د شعرونو ټولګه د هوښیارتیا تله، (ساپوهنه) ژبساپوهنه، سندریز پیغام (د شعرونو ټولګه د هوښیارتیا کلتور بې پلوه تله، د پیدا ایښتی ښو د هوښیارتیا تله ۲۰۰۴. خورې مصرې دی لو خوب مانا: تر لیکنې لاندې ئې ناچاپ کتاب دے.

ورځپاڼه وحدت پیښور
5 اپریل 2006

## Daily Wahdat -Peshawar

د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند د مشر اروابناد ډاکتر کبير ستوري پر ناڅاپي مړينه په ورځپاڼه وحدت کښې د پښتنو سپاستوالو، ليکوالانو، پوهانو او شاعرانو ليکنې او د غمرازي اوخواخوږۍ څرګندونې

## Condolences on the passing of Dr. Kabir Stori


ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو دوهمې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

پېښور


وحدت

6 اپريل 2006

چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد


### د ډاکټر کبير ستوري اخري ديدار د جمعې په ورځ په پېښور ائيرپورټ کيږي

سحر پينځه بجې به د دهٔ مړے پېښور ته راوسولے او بيا به دفن کولو د پاره کونړ ته وړلے شي



پېښور (وحدت خبر) د پښتو ژبې دستر ليکوال، شاعر اديب او په جرمنۍ کښې د ټولنيز اولسيز ګوند د مشر ډاکټر کبير ستوري مړے د جمعې په ورځ سحر پنځه بجې پېښور ائيرپورټ ته راوسولے شي. چې دلته به د ډاکټر صيب مينه وال د دهٔ اخري ديدار کولے شي. او وروستو به بيا ديوې قافلې په شکل کښې د ډاکټر صيب مړے د دهٔ پلرنی ټاټوبي کونړ ته وړلے شي. چې هلته به ئې د جنازې مراسم ترسره کيږي په پښتونخوا کښې د ډاکټر صيب مينه وال کولے شي چې د دهٔ اخري ديدار د جمعې په ورځ سحر پنځه بجې د پېښور په هوائي ډګر وکړي۔

ورځپاڼه وحدت پېښور

APNS | CPNE | FEC

Wahdat@pes.comsats.net.pk

موئږ دپاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مدد ګارے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
وحدت
پیښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

فون: 2214154 فیکس: 2214321 بیعه 4 روپۍ

جلد: 31

پنج شنبه/زیارت، 7 ربیع الاول 1427هـ ق، 24 چیتر 2062 ب
6 اپریل 2006، 17 وری/حمل 1385هـ ش

شماره: 93

ABC CERTIFIED

رجسټرډ پی ای نمبر ۲۷

# ډاکټر کبیر ستوری مړے دفن کولو دپاره کونړته ورسول شو

## په تورخم دروازه افضل خان لاله، ایم پی اے ارشد خان، قیصر ایډوکیټ او نورمشران مړي ته ولاړ وو

## دپښتونو ېې او ملي وحدت دپاره به د ډاکټر صیب خدمتونه تل یادساتلے شي، افضل خان لاله



پیښور(پ ر) دمشهور قوم پرست دانشوراوشاعر ډاکټر کبیر ستوری مړے پرون سحر دجرمنی نه پیښور ته راوړے شو وروستو دمرحوم جنازه خپل پلارنی کلی کونړ افغانستان ته روانه کړے شوه. جنازه چې کله دتورخم دروازې ته ورسیده نو دغلته دعوامی نیشنل پارټۍ مرکزی مشر افضل خان لاله، ایم پی اے ارشد خان، قیصر خان ایډوکیټ، اقبال خیبروال، ریاض خټک او

باقي صفحه 2 کالم 5

### باقي — کبیر ستوری مړے

لائق زاده لائق ورته الوداع وکړ. افضل خان لاله په دې موقع ووئیل چې کبیر ستورے نه صرف ادیب او شاعر ؤ بلکې دپښتو دقومی وحدت دنظریې زبردس

وحدت

چیف ایډیټرو پبلشر پرنټر سیدسفیدشاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" دپاکستان دحکومت
په تصدیق دمنظورعام پریس خیبربازارپېښورنه خپروی، ایډیټر پرنټرحمدل شاه
ایډیټر: ظفرعلی شاه ګیلانی، پته:: ورځپاڼه وحدت20 اسلامیه کلب بلډنګ
خیبربازارپېښور ــ فون : ۳۱۴۰۳۴ ۳۱۴۱۵۴ فیکس ۳۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pak

# دډاکټرکبیرستوري په مړینه دمختلفوتنظیمونواوشخصیاتوغمرازي

پېښور(وحدت خبر) جرمني کښې د میشته دپښتو ژبې دنامتو لیکوال شاعر، ماهرنفسیات ،اوډ

باقی صفحه ۵ کالم ۱

**باتي** کبیرستوړے، غمرازي

پښتنو دحقونو دمبارز ډاکټرکبیر ستوري په مرګ ټول پښتانه په خصوصي توګه ادیبان او شاعران ژړغونې غمژن شویدي. دکامل پښتو ادبي جرګې پېښور صدر ډاکټرشیرزمان طائزي او نورو ملګرو د ډاکټر کبیر ستوري په ناڅاپي مړینه دژورې خواشیني څرګندونه کړې او دنوموړي مړینه ئې دپښتو ادب او ژبې لپاره یوه ستره ضائع ګرځولې ده. دوی دعا کړېده چې خداې پاک دې دمرحوم مغفرت نصیب کړي. بلخوا افغان خپرندویه ټولنې پېښور هم د ډاکټر کبیر ستوري په مړینه ژورخفګان څرګند کړے او وئیلي ئې دي چې نوموړي دپښتو ژبې او ادب لپاره زړه پورې خدمات ترسره کړیدي. نوموړي نه یوازې په خپله دپښتو ستر خدمت کړیدے بلکې نور پښتانه ئې هم دپښتو خدمت ته هڅولي دي. دوی دعاکړیده چې خداې پاک دې دمرحوم مغفرت او غمژنې کورنۍ ته د زړه صبرنصیب کړي. دعالمي پښتوکانګرس دغمرازۍ یوه غونډه پرون دکانګرس د چیئرمین پروفیسر جهانزیب نیاز

په صدارت کښې وشوه. غونډه کښې په جرمني کښې مقیم دپښتو د لوئې خدمتګار شاعر کبیرستوري په مړینه د ډیر غم او خفګان څرګندونه وکړے شوه. په غونډه کښې ووئیل شول چې مرحوم په جرمني کښې دپښتون سوشل ډیموکریټک باني ؤ. دمرحوم لخوا دویم پښتو عالمي کانفرنس او دعالمي پښتوکانګرس په سیمینارکښې شرکت دپښتوژبې سره دمینې یو ښکاره ثبوت دے. دعالمي پښتو کانګرس ټولو عهدیدارانو د مرحوم کورنۍ سره دهمدردۍ اظهار کړیدے. دپښتون ډیموکریټک کونسل چیئرمین زرعلي موسی زي په خپل یو اخباري بیان کښې د ډاکټر کبیرستوري په مړینه غمرازي ښکاره کړې او وئیلي ئې دي چې ډاکټرصیب دپښتنو نه هیریدونکے مبارزؤ. د پښتون د وحدت لپاره دخداې بخښلي خدمات دهیرولو نه دي. دده مړینې سره پښتنو لیکوالانو ته سخته صدمه رسیدلې ده. دده د خداې بخښلي کورنۍ سره د غمرازۍ څرګندونه کړیده

ورځپاڼه پېښور
# وحدت
13/4/2007
13 April 2007

# په زړه کښې ماته پام دستوري په غزل به کوي

د اتـوار ورځ وه مـوسم ډيـر خـوشگوار ؤ او پـه دې ورځ مې يوولس بجې امجدخان ته گرين هـوټـل ښـودلے ؤ، چې هلته به راشي هـلتـه مې لـه بل چا سره هـم وعده وه خو زۀ چې صدر ته راورسيدم په څۀ شی پسې د يو دوکـان مخې ته اودريدم چې له مخې مې حاجی نصيرستورے تير شو ما ورپسې غږ وکړو مخ ئې راگـرخولـو تـرروغ جوړ وروستـه مې ورتـه ووئيـل د صـدر بـازار د ورځې يـوولـس بـجې او دچا غږ اوريـدل او بيا راگـرځيـدل څه عجيبه خبره نه ده؟

هـغۀ ووئيل ولې د اتوار ورځ نۀ ده څۀ، چې صدر تش پروت دے ښـه حاجی صيـب کله راغلے ئې؟ خـان لـه راغـلے ئې کـه سـتـورے صيـب هـم درسـره راغلے دے؟

پـه دې خبـره حـاجی نصيرخان غلے شـو، رنگ ئې بـدل شـو. لـکـه د پښـو نـه ئې چې زمکه تښـتيـدلې وی اخـوا ديـخوا ئې وکـتـل يو څو اسويلی ئې وکړل ښکته ئې وکتل لاس ئې په مخ راښـکـو پـه تعجب ئې ووئيل: ولې جـنـرال صيـب تۀ خبـر نۀ ئې؟

او چې مـا څۀ وئيـلـو تـه خلۀ جوړولـه بيانې راباندې يو ډير بد زيـــرے وکـړو چې زۀ هـم هک پک ا و حيران شوم، ولې جنرال صيـب تـاسـو خبـر نۀ يئ چې سـتـورے صيـب وفـات شـوے دے زۀ شـور پـوهه نۀ شوم چې د غـم ددې لوئې خبر په اوريدو به زمـا له خلې څۀ وتـی وی؟ څۀ به مې وئيـلـی وی؟ دۀ له به مې د داد خبـــره کړې وی کۀ نـــه کۀ رښتيـا رابـاندې وايئ همدومره مې يـاد دی چې حاجی نصير ته مې غيږه ورکړه او تـر ډيره مې په غيږ کښې نيولے ؤ خو د هغۀ زړۀ داسې سـورے شـوے ؤ چې زمـا پـه دې تسـلی بـه د هغۀ څـومره سود شوے وی؟ ما ترې د بيدار ستوری پوښتنه هم ونۀ کړه دے رخصت شو زۀ د وعدې ځاې ته ورغلم امجدخان په هال کښې نـاسـت ؤ زۀ هم ورسـره کيښـنـاستم څۀ لږه شيبه وشوه بـل ميلمه چې د سرگودهې دے کـامـران صيـب هغه هم راغـے خـو زمـا طبيـعـت ډير خراب ؤ امجدخان رانه پوښتنه وکړه څۀ چـل دے موډ دې خراب ښکاری پــه فـون چې خبـرې کيدې ډير بـرابـر وې مـا ورتـه ټول حـال ووئيـلـو دۀ بې اختيـاره ووئيل ولې هـغـه خـو روغ جوړ ؤ الله دې وبخښـی ډاکټرکبيرستورے خـو لـوئې پښـتـون ؤ، ډيـر ښۀ سړے ؤ تـاسـو سـره د ايران پـه قـونصليټ کښې ليدلے ؤ تاسو چې ورسره زما تعارف وکړو بيا تـاسـو د بـل چـا سره پـه خبرو بـوخـت شـوئ هغوی له ما سره ډيـره مينه وکړه ما ورتـه ووئيل هـغـه د ايران قونصلگری نۀ ده هـغـه د ايرن کلتوری مرکز دے "خانه فرهنگ ايران "بيـا د دنيا پـه خبـرو سـر شـو څکه چې يو د بل له غـمه نۀ مری او هسې هم د انـسـانـانـو دا زړونـــه جنگـونـه بمونو، مرگونو، او وينو توئيدو داسې کـلـک کړی لکه د غوښې پـــه ځـائې چې پـه زړونو کښې تيږی پـــرتې وی هـغـــه څۀ لږه شيبــه د دهـغـــه خفگـان هغـه احســاس هغه بيانوی بيا انسان پـه خپـل ژونـد او خپلو کارونو پسې روان شـی هر څۀ هير شی بيـا څو ورځې وروستـه زۀ چرتـه لاړم هـلتـه يـوه غـرمـه حاجی

جنرال عبدالصمدمومند

طفيل صيب ميلمه کړم او دغه غرمه د ستوری صيب سره سره د خـادم صيـب ،رښـتين صيـب، وزيـرمـحـمدگل خان مومندبابا دوست محمدخان کامل مومند، قـلـبنـدرمـومـنـد او نورو ادبـی شخصيـاتو د خدمتونو ذکر وشو ډيـــرې گټـورې او خـونـدورې خبـــرې وشـوې هـلـتـه حـاجی طـفـيـل صيـــب نـور خـلـق هم راغـــوښـتـی وو چې پـــه هـغې کښې يـو ډيـر تاريخی انسان او پـــه هـــره حـوالـــه يـو رسيدلے شـخـصيـت حاجی محمداسحاق خان الکوزے ؤ چې دهغۀ سره د هـر چا په حواله غوره معلومات وو څۀ رنگ چې ډاکټـــرکبيـــرستـوری پـــه دغو ورځـــو شپـــو کښې پــــه حـق رسيـدلے ؤ نو ښاغلی الکوزی صيـب ئې پـه ژوند او فن پوره خبـرې وکړې په خانگړې توگه دهغوی په يو کتاب (ساپوهنه) باندې.

زۀ چې بيـرتـــه خپـل هوټل تـه راغـلـم قلم کاغذ مې راواخستو اراده مې وکړه چې زۀ هـــم پـــه ستوری صيب څۀ وليکم کۀ څۀ هم چې د ډاکټـــرصيـب حق ادا کـول او پـوره کـول گران بلکې ډيـــر گـــران کـــار دے خو پــه ډاکټــرکبيـــرستـوری ليکل د هـغې نـه هم گران کار دے څکه چې پـه ليک کښې به دستوری لـــه ژونـد او فـن سـره انصـاف څوک او څنگه وکړی؟ خو بيا د يـــوسـف (ع) او د بـــوډۍ د پـاغونډې خبره راياده شوه او له خـان سره مې ووئيل چې تۀ هم څـو کـرښې تورې کړه معياری نۀ سهـی خـو وليـکه ضرور تر ډيره مې قلم په غاښونو وټکولو په سوچ کښې ناست ؤم چې څۀ وليـکم او څنگه ئې وليکم يوه خبـره چې ذکـر ئې بايد وکړم او هـغـــه دا چې د ژونـد ډيرو تيرو مـصـروفيـاتـو رانه د ادبی دنيا لارې ورکې کړی دی د هـــغې ژونـد چې واقـعـی ژونـد دے له ادب او ادبياتو سره د تړون لارې رانه ورکې شوی دی اول بياست بيـا کـلـومت او بزنس رانه قلم د گـتو اخستے دے.

دا څـو کـلـونه مايوه کرښه هم نۀ ده تـوره کړې البته شاعری چې کـلـه راباندې راووريږی هغه په کـاغـذ زر زر وليـکـم بيا هغـه کاغذ اکثر ورک وی نو لـيک او لـيـکـل خکه گران شوی دی .او کۀ پـــه دې ليک کښې هم څۀ کـمـے زيـــاتے وی زۀ د هغې هم بـخښـنـه غواړم او بله دا چې ما

وحدت

ورځپاڼه وحدت پېښور (۵) ۱۳ اپریل ۲۰۰۷

# پام دستوري په غزل به کوي

سره د ارواښاد کبیرستوري د ژوند د حالاتو په اړه هیڅ کتاب نشته او که دا ووایم چې ددې موضوع خو څه چې د یوې موضوع په رابطه هم راسره کتاب نشته بلکې که دلته ولتهول شي هم د پښتو کوم کتاب به پیدا نه شي.

بیا مې د ځان سره ووئیل چې ستورے خو ستورے وي او د ستوري صیب د ژوند او فن په اړه به دومره علمی مقالې لیکل شوي وي چې دا لیکنه نظرماتے حساب او بله دا چې که ددې پیړۍ ادبی تاریخ لیکل کیږي او دپښتو ادب په حقله خبره کیږي او په هغې کښې د ارواښاد ډاکټر کبیرستوري ذکر نه وي د هغوي په ژوند او فن خبره نه وي شوي نو دا تاریخ به یو نیمګړے تاریخ وي او زهٔ خو صرف خپل احساسات او تاثرات د کاغذ مخ ته رسوم او دپښتنو دا لوئې ستورے د لیکنې او یادونې محتاجه نه دے هغوی ته لوئې الله یو لوئې مقام ورکړے دے چې دا مقام ترې مرګ هم وانهٔ خستلے شو او مرګ د خپل درانهٔ سیوري لاندې ورک او پټ نه کړے شو مرګ هغه کسان د خپل درانهٔ سیوري لاندې پټ او ورک کړي چې د (کلوا وشربوا) پرته نې په ژوند کښې بل مقصد او مرام نه وي خو هغه چې د ژوند مرام مقصد او موخه په مخ کښې لري د خدمت جذبه ورسره وي خادم او خدمتګار وي مرګ نې هم د خپل تول

نور په پنځم مخ

## پاتې: پام د ستوري په غزل

زور او قوت سره هم تر خپل درانهٔ سیوري لاندې پټولے او ورکولے نهٔ شي او هغه ژوندي او جاویدان وي خکه چې د قلم خاوند وي د خپلو خلقو خپلې ژبې خپل ادب خپل کلتور او فرهنګ یو رښتینے خادم وي چې په دې سلسله کښې د یو خدمتګار قلموال او د ادب او سیاست د یو سرخیل ډاکټر کبیرستوري نوم هم د ستائنې او یادولو وړ دے چې د خپل ژوند ډیره برخه نې د خپلې خوارۍ خو ویاړلی پښتو په خدمت کښې تیره کړه د ادبی او فرهنګی خدمتونو سره سره نې ډیر ملی خدمتونه هم کړي دي چې تل به په ویاړ سره یادولے او ستائیلے شي د هغوی فن دومره لوئې دے لکه پخپله کبیرستورے او دهغهٔ نرم مزاج د خدمت یوه جذبه دپښتو او پښتنو سره لیونی مینه دا ټولې داسې خبرې دي چې د شخصیت خاوند ته نور شخصیت هم ورکوي او دې ټولو خبرو او خُداداد صلاحیتونو ستورے دومره وخلولو هسک کړو او د خلقو د زړونو تل ته نې کوز کړو چې نور خو پرېږده چې شاید د کبیرستوري د تصور نه هم لوړه خبره وي خو زهٔ به دا ووایم چې دا د کبیرستوري حق ؤ بلکې له دې لار د ډیر درناوي حقدار او مستحق وو.

زمونږ د پښتنې ټولنې ژوند په همدغسې انسانانو پورې اړه لري کومه ټولنه چې د ډاکټر کبیرستوري په څیر شخصیات نهٔ لري هغه ټولنه او خلق ژوند نهٔ لري هغه خپله پیژندګلوی نهٔ لري، خپل تشخیص نهٔ لري او زهٔ به دا ووایم چې هغوی تاریخ نهٔ لري او کله چې تاریخ د یوې ټولنې په باب قضاوت کوي د هغې اتکا په عملی شخصیاتو وي او کهٔ د کبیرستوري په څیر دا ادبی هستی نهٔ وې نو نن به دپښتنو او پښتو ادب څهٔ حال وے .خو دا د دوی او د دوی په څیر د نورو ادبی هستیو هڅې دی چې پښتو او پښتو ادب په نړیوال کلی کښې هسک سر ولاړ دی.

پښتو او پښتانهٔ بختور دی چې الله پاک ورته داسې مشیناتي ورکړي چې ساری نهٔ لري ثانی او مثال نهٔ لري او دا ټول د ویاړ او ستائنې وړ دی او په پای کښې د ډاکټر کبیرستوري د زړهٔ د تل دا سندریز پیغام دا زرین تکی او حرفونه:........

چې پښتونخوا ته پسرلی د پښتونوالي راوړی
په زړهٔ کښې ماته پام دستوري
په غزل به کوي

ورځپاڼه پېښور
THE DAILY
WAHDAT
PESHAWAR
وحدت
چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد
چارشنبه 5 جولائی 2006ء

# ډاکټر کبیر ستورے او سندریز پیغام

**لیك: فیروزخان صادق**

خداې بخښلے ډاکټر کبیر ستورے د پښتون قام او ژبې په دنیا کښې یو داسې قدآور او معتبر نوم دے چې د شخصیت فکر او فن اوازې او انګازې ئې په هر لور خورې ورې دی او د هر چا په زړهٔ کښې ئې ځان ته ځاې جوړ کړے دے دهغهٔ سپین سپېڅلے شخصیت روڼ روښانه تندے خوږه او پسته لهجه په خبرو کښې د پوهې او علمیت نخښې مهذب او مودب انداز د هر چا احترام او هر چا سره مینه دخپل قام او ژبې د خوشحالۍ او سوکالۍ دپاره هر وخت هلې ځلې د تعلیم د اهمیت او افادیت نه خپل قام خبرول د نومورې د ژوند تر ټولو لوئې مرام ؤ.

اروابناد د لوړو زده کړو نه پس د جرمنی په هیواد کښې د ډاکټرۍ پیشه خپله کړې وه چې غوښتل نې له هم دې لارې ځنه د انسانیت خدمت وکړی او که څرې مونږ د ډاکټرستوری په ژوند نظر واچوو

> اروابناد ډاکټر کبیر ستورے د ژوند شاعر دے او د ژوند شاعر کله هم نهٔ مری بلکې چې ترڅو ژوند وی نو تر هغې به د هغهٔ فن هم ژوندے وی او هر پښتون به دخپل دغه اتل شخصیت په کار او زیار ویاړ کوی او ددهٔ خدمتونو ته به د ستائنې او ډاډ ګیرنې امـــیلونه پـــه غـــاړه کـــوی

نو هغه پخپل دغه نیک مقصد کښې تر ډیره حده پورې بریالی توب ترلاسه کړے ؤ. هغه یو مستقل مزاجه انسان ؤ ځکه نو په سفر او حضر داخل او خارج شپه او ورځ غرض دا چې هر وخت د خپل مقصد حیات دپاره متحرک ؤ او هغه د انسانیت د خدمت ترڅنګ د خپلې ژبې ادب او خپل قام د پرمختګ او ښیرازۍ فلسفه وه چې نومورې ددې غرض دپاره خپل ټول خوبونه ارمانونه او سهولتونه قربان کړی وو هغه د پښتون قام د یو والی تعلیم ترقۍ او خوشحالۍ ډیر ارمانی او داعی ؤ. او هم له دې مقصد دپاره ئې دلیک لوست موثره او معتبره لاره خپله کړې وه او بیا ئې د خپل قام د اسانۍ دپاره د ادب دواړه څانګې نظم او نثر خپل کړی او غوره کړی وو په ذهنی توګه هغه یو انقلابی او بالغ نظر شاعر ادیب ؤ په جسمانی توګه هغه نسبتاً کمزورے ؤ خو خونې ئې درونډ او خصلت ئې مضبوط. طبعاً هغه یو چست او چابک سړے ؤ مزاج ئې نرم او نفیس ؤ خبرې ئې خوږې هم وې او درنې هم بلکې ټولې خبرې ئې د کار وې بنیادی طور یو بې ازاره او بې ضرره ؤ او د هر چا سره ئې تعلق او تړون بېخی بې غرضه او بې لالچه ؤ پخپله ئې تعلق د پښتنو د یوسفزو قبیلې سره ؤ خو په مجموعی توګه هر پښتون ئې د سترګو تور او د زړهٔ ټکور ګڼلو.

هم دغه وجه ده چې خپل ټول ژوند ئې د پښتو او پښتنو دپاره بخښلے ؤ. او کهٔ هغه هر څو د جرمنی غوندې کاروباری ملک او مادی ماحول کښې اوسیدو بلکې هغه په بنیادی توګه د دوؤ پیسو ګټلو

باقي: ډاکټر کبیر ستورے

په خاطر د مسافرۍ دغه اذیت ناک او کربناک ژوند ته غاړه اېښې وه خو سره ددې ئې خپل قام او خپله ژبه یو ساعت هم له خیاله نهٔ ده ویستې او دجرمنی څخه ئې هم د پښتو مطبوعاتو پښتنو شاعرانو، ادیبانو، صحافیانو او نورو اړوندو کسانو سره برابر تماس نیولے دے بلکې په دیار غیر کښې ئې دپښتنو د ترقۍ شناخت او پرمختګ په خاطر دپښتون سوشل ډیموکریټک پارټی جوړه کړې وه چې دخپل قام او ژبې دخدمت په اړوند ئې ډیر فعال او یادګار رول لوبولے دے هم په دې دوران کښې به چې هر کله په افغانستان، پاکستان یا بل کوم هیواد کښې کومه غونډه جوړه شوه نو ډاکټر کبیر ستوری به اړو مرو ځان ور رسولو او دخپل قام او ژبې د نمائندګۍ حق به ئې ادا کولو. په تیره بیا کله به چې پېښور ته راغلو نو دلته به ئې خامخا په ادبی او ثقافتی غونډو کښې هم ګډون کولو او ددې ځاې د شاعرانو، ادیبانو، هنرمندانو او صحافیانو نه علاوه به قام پرستو سیاستمدارانو سره هم ئې لیدل کتل کول او د دوی سره به ئې دپښتو ژبې او پښتون قام په موجوده حالاتو اوږدهٔ اوږدهٔ علمی بحثونه کول. او هم دغه ادبی او ثقافتی تعلق او تړون ؤ چې:

باقي برخه
بله پاڼه کې

وحدت

# ډاکټر کبير ستوري او سندريز پيغام

ليک: فيروزخان صادق

پاتې برخه

دستوري فکر او فن ته ئې لاتوره ښکلا او خلاوورکړي وه. او هم دغه Coommitment ؤ چې ستوري ئې پخپل مقصد کښې د بريالیتوب تر مقامه رسولے ؤ. او دغه په فکر او پوهې کښې د پوخوالی او پرخوالی سبب ګرځیدلے ؤ. د ارواښاد د خبرو اکثر موضوع به دپښتون قام ماضی، حال او مستقبل ؤ. هم په دې موضوع به ستوری د هر چا سره بحثونه کول د هر چا وړاندېزونه او دليلونه به ئې په ډيره توجو او رغبت سره اوريدل. او بيا به ئې تري د ضرورت په وخت استفاده هم کوله.

هر کله چې د پښتنو په لوئې کور افغانستان روسی يرغلګرو تيرے وکړو او سمسور افغانستان ئې د بارودو په شنو لوخړو کښې لولپه کړو نو د يو افغان په حيث ډاکټر کبير ستورے هم په دغو لوخړو کښې در په ديکه شو او دحالاتو دغه طوفان ډير وخوخولو او وې خنګولو خو دحالاتو مقابله ئې ډيره په جرات او استقامت سره وکړه. په قول د رحمان بابا (رح) چې:

لکه ونه مستقيم پخپل مقام
يم
کۀ خزان راباندې راشی کۀ
بهار

او بيا هر کله چې د جهاد په مقدسه فريضه ترسره کولو افغانانو خپل دښمن ته ماتې ورکړه نو لکه د نورو افغانانو کبيرستورے هم خوشحال شو په دې هيله چې زمونږ هيواد به يو خل بيا سمسور شی خو متاسفانه چې د روسی تيری نه پس افغانستان کښې خپل منځی جنګونه شروع شول او بيا افغانستان داسې لوټې لوټې شو چې په کنډواله ياد شو خو ستوری بيا هم همت ونۀ بائيللو او په قول د خوشحال خان خټک چې:

کۀ اسمان دې د زمری په خلۀ
کښې ورکړه
د زمری په خلۀ کښې مۀ
پريږده همت

هم دا وه چې افغانستان د دريو لسيزو د غرغندو او برباديدو نه پس يو خل بيا د ابادی او سوکالی په طرف روان شوے دے. او تس نس افغانان دهجرت نه پس اوس خپل وطن په ډير عزت او درناوی را ستنيږی. او هيله کيږی چې ډير زر به ټول افغانان خپل هيواد ته راشی او دخپل وطن د بيا ودانۍ په کارونو کښې به خپله برخه واخلی او د ډاکټر کبيرستوری مرحوم روح ته به سکون او راحت ورسوی. او د يو ډاکټر کبير ستوری روح ته نۀ بلکې د ټولو شهيدانو روحونه به خوشحاله او خندان شی.

د ډاکټر کبيرستوری شخصيت ګڼ اړخونه او رخونه لری خکه نو دهغوی په شخصيت نور هم ډير څۀ وئيلے او ليکلے شی خو دليک طوالت مې دلاړې خنډ جوړيږی خکه نو دشخصيت او فکر متعلق ئې په ذکر شوؤ خبرو اکتفا کوم او بيا دفن يوه اجمالی خاکه ئې دلته د مثال په ډول ذکر کوم ارواښاد ډاکټر کبيرستورے لکه چې مخکښې وئيل شوی دی چې د يو ښۀ انسان سره سره يو ښۀ شاعر او اديب هم ؤ او بيا د نظم او نثر دواړو په حواله ئې خپل يو نوم لرلو اوتر دې وخت پورې ئې د نظم او نثر تقريباً څۀ يو درځن کتابونه ليکلی دی چې پکښې زياتره چاپ شوی هم دی او دا وخت ئې شعری مجموعه سندريز پيغام زما مخې ته پرته ده چې رنګينه سرپانه معياری کاغذ ۱۴۴ مخونه لری چې په کال ۲۰۰۲ء کښې د پښتونخوا د پوهنې ديره پيښور لخوا په دانش کتابتون کښې چاپ شوې ده ترڅن ئې د پښتو د نوموړی شاعر او اديب ښاغلی لائق زاده لائق په نوم شوے دے او سريزه پسريزه پروفيسر اباسين يوسفزی ليکلې ده چې پکښې ئې د ښاغلی کبيرستوری د فکر او فن ښه کوټلې جائزه اخستې ده.

هر کله چې مونږ د ارواښاد کبيرستوری ددې شعری مجموعې مطالعه کوؤ نو را ته ددۀ د فن ګڼ رنګونه او قسمونه په نظر راځی چې پکښې مينه، محبت، ميړانه، جرات، پښتونولی، وطن دوستی، لوظ، حسن او جمال، غم د جانان او غم د دوران، لنډه دا چې د ژوند په هر اړخ پکښې شعرونه په نظر راځی چې يو طرف ته دشاعر په فهم او فراست دلالت کوی او بل طرف ته زمونږ د تکورونو کار کوی.

د کتاب وړومبے شعر ئې دا دے:

ګناه د بل چا نۀ ده دا زمونږ
خپله ګناه ده
پښتو پښتونولی ته اړولې
چې مو شا ده

ددې شعر نه دا اندازه په اسانی سره لګيدے شی چې ښاغلے شاعر پخپل قام او خپله ژبه څومره مئين دے خکه چې صرف دا يو شعر نۀ بلکې پوره غزل ئې د هم دې موضوع نه ځار کړے دے هم دغسې ئې په ټول کتاب کښې زيات تر کلام په پښتو او پښتونولی مشتمل دے لکه چې يو بل ځای کښې وائی:

بې پښتو نۀ شی په پښتو
باندې پښتو به کوې
د مينې ستورې ته د خپلې
پښتو رنګ ورکړه

او يا دا چې:

چا چې ده ليدلې په ستائيلو
ئې مړيږی نه
يو خوا ئې ښائست د ے بل
صفت د پښتو کوی

کۀ څۀ هم د ستوری د شاعری مرکز او محور پښتو او پښتونولی ده خو ددې ترڅنګ هغۀ په هره موضوع قلم پورته کړے دے چې د نمونې خو شعرونه ئې داسې دی:

د عشق کار کښې دهر چا ده
بيله برخه
د چا ستورے دے تيارۀ د
چا ځليږی

د ګل ښائست نه چې په بڼ
کښې بلبلان ځاريږی
پور دې ورکړے دے کۀ ګل
د ښائست غلا کړې ده

کلی نه وځی خوله اولسه
وتل نۀ منی
تل په ټولنيز ژوند کښې
انصاف او عدالت غواړی

چې دبخت ستورے مې
دعشق اسمان کښې وځليدو
خدائيګو د کلی لويو ورو
راته دعا کړې ده

ددې شعرونو په اساس مونږ دا خبره په ډانګ پيللې کولے شو ارواښاد ډاکټر کبيرستورے د ژوند شاعر دے او د ژوند شاعر کله هم نۀ مری. بلکې چې ترڅو ژوند وی نو تر هغې به د هغۀ فن هم ژوندے وی او هر پښتون به دخپل دغه اتل شخصيت په کاراو زيار وياړ کوی او ددۀ خدمتونو ته به د ستائنې او داد ګيرنې امیلونه په غاړه کوی.

ما وې چې زۀ به د جانان
ښکلے تصوير جوړوم
زۀ اعتراف د عجز ؤ فن کړم
ما تصوير جوړ نۀ کړو

# دعالمي پښتوکانفرنس اوانجمن ترقي پسندمصنفين دغمرازي غونډه

## داعظم بیګ دموراوسید ظفرعلي شاه ،کبیرستوري ،قمرطانزي، تکریم الحق کاکاخیل په مړینو غمرازي

پېښور(پ ر) دعالمي پښتو کانفرنس اوانجمن ترقي پسند مصنفين يوه مشترکه د غمرازي غونډه د کانفرنس د چیرمین

باقي صفحه 5 کالم 3

**پاتې: عالمي پښتوکانفرنس غونډه**

سليم راز صدارت کښې وشوه. چې پکښې دورخپاڼې مشرق چیف ایډیټر سید ایاز بادشاه دتره سید ظفرعلي شاه او دپښتو ،اردو او انګريزي دنامتو اديب صحافي اودمياشتینۍ ډپلومیټ چیف ایډیټر اعظم بیګ دمور بی بی په مړينه دغم او خفګان څرګندونه وشوه. اجلاس کښې دمرحومينو دبخښنې او پسماندګانو ته ددې غم دزغم دپاره دعا وشوه. ديو قرارداد په ذريعه دافغان سوشل ډیموکریټک پارټۍ دمشر، دپښتو اوفارسۍ نامتو دانشور، کبیرستوري، دپښتو نامتو اديب سيد تکريم الحق کاکاخيل المعروف روغ ليونې نامتو شاعر او طنز نګار قمرزمان قمر په مړينه دغم او خفګان څرګندونه شوې ده. قرارداد کښې ددريو وارو پوهانو د علمي ،ادبي ،سماجي اوسياسي خدماتو ستائينه شوې ده. او وئيلي شوي دي. چې دا دپښتو ژبې ادب او پښتون قام دپاره يو لوئې تاوان دے. اجلاس کښې دنورو نه علاوه سيد سيف الرحمان سليم سراج خان ، انورزيب ،روښا يوسفزئی ، ډاکټرسهيل انشاء، حنيف خليل هم موجود وو.

وحدت
07.04.06

مونږ دپاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مدد گار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
# وحدت

پېښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

رجسټرډ ایل نمبر ۲۷

فون: 2214154 فیکس: 2214321 بیعه 4 روپۍ

جلد: 31 | دوشنبه، 9 ربیع الثاني، 1427 هـ ق، 30 وساک، 2063 ب، 8 مئی 2006، 18 ثور (غواتے)، 1385 هـ ش | شماره: 124

# دژبې ترقي سره دقام ترقي تړلې ده. افضل خان لاله

## پښتو عالمي کانګریس او غني خان پښتو ادبي تحقیقي ثقافتي جرګې دډاکټر کبیر ستوري او قمرزمان قمر طانزي یاد کښې ریفرنس وکړو

## دپښتو ژبې او ادب دودې لړ کښې به د ډاکټر ستوري او قمرزمان طانزي خدمات تل یادساتلے شي، مقررین




د عوامي نیشنل پارټي مشر افضل خان لاله او نور په دستوره کښې شریک دي

پېښور (وحدت خبریال) دعوامي نیشنل پارټۍ مرکزي مشر محمد افضل خان لاله وئیلي دي چې دپښتو ژبې د روزنې پالنې او ددې دژوندي ساتلو دپاره چې شاعرانو، ادیبانو او لیکوالو د وسائلو دنشتوالي باوجود کومې قرباني ورکړیدي. او دپښتون قام د وحدت دپاره ئې کوم فعال کردار ترسره کړے باید هغې ته دقدر په نظر وکتل شي. پښتون یو داسې بدقسمته قام دے چې په سوونو کاله اقتدار کښې پاتې شویدے. خو ژبه ئې اقتدار کښې پاتې نه ده. دژبې ترقي سره دقام ترقي تړلې ده. ددې خیالاتو څرګندونه دهٔ تیره ورځ دمشر میلمه په حیث دپښتو عالمي کانګریس او غني خان ادبي، تحقیقي، ثقافتي جرګې په اشتراک دپښتو دستر شاعر، نقاد او محقق اروابناده قمرزمان قمر طانزے او پوهاند لیکوال اروابناد ډاکټر کبیر ستوري په یاد کښې پېښور پریس کلب کښې شوې درنې دستورې ته دخطاب په وخت کړې ده. ددستورې صدارت پروفیسر جهانزیب نیاز کولو. افضل خان لاله دکبیر ستوري او قمر طانزے روح ته ددوی دادبي خدماتو په ترسره کولو نیکې پیرزوینې وړاندې کړې او وې وئیل چې پښتانه باید د دوی پیغام خور کړی او ټول عمر کبیر ستورے او قمر طانزے په خپلو ذهنونو او زړونو کښې ژوندي وساتي. دستورې ته دخطاب په وخت ددستورې صدر دپښتو عالمي کانګریس چیرمین پروفیسر جهانزیب نیاز، لائق زاده لائق، ډاکټر شیرزمان طانزے، مبارز خاپي، د ورځپانې وحدت نیوز ایډیټر میا فاروق فراق، محمد اصف صمیم ایم پي اے ارشد خان او نورو پوهانو د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري او اروابناد قمرزمان قمر طانزے په ژوند او خدماتو رڼا واچوله په دې موقع دستیج سکتر فرائض شبیر دراني ترسره کړل دستوره کښې دشهاب الدین خټک، د ورځپانې وحدت سب ایډیټر امجد علي خادم، انفارمیشن افسر او ستر لیکوال لیاقت امین، حمید الرحمان ناداڼ، شمشیر هیواد، فریدون خان او دګل محمد مسرور او مظهر شاه طاهر نه علاوه د چارسدې، مردان، صوابۍ، کوهاټ، پېښور او خواؤشا نورو علاقو دادبي تنظیمونو نمائندګانو او افغان لیکوالو هم ګډون وکړو.

موږ د پاره هم الله کافي دی او ډېر ښه مددګار دی (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپاڼه
# وحدت

پېښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

بیعه 4 روپۍ

فون: 2214154 فیکس: 2214321

رجسټرډ پي نمبر ۲۷

جلد: 31

یکشنبه (اتوار)، 8 ربیع الثاني، 1427هـ ق، 29 وساک، 2063 ب
7 مئی، 2006ء، 17 غوایی (ثور)، 1385هـ ش

شماره: 123

## ډاکټر کبیر ستوري او قمر طانزي یادګښي ریفرنس نن کیږي


ریفرنس تابیا پښتو عالمي کانګرس او غني خان پښتو ادبي تحقیقي جرګې کړیده

پېښور (پ ر) د پښتو عالمي کانګرس او غني پښتو ادبي، تحقیقي او ثقافتي جرګې په اشتراک د پښتو ژبې د نومیالي شاعر محقق او روانښاد ډاکټر کبیر ستوري او د پښتو د ځیرنکار شاعر، ادیب او سترلیکوال او روانښاد قمر زمان قمر طانزي په یاد کښي ریفرنس نن ماذیګر درې بجې پېښور پریس کلب کښي کیږي، دې دستوره کښي به نومیالي لیکوال او پوهان د کبیر ستوري او قمر طانزي په علم او فن او ادبي خدماتو رڼا اچوي پښتو ادبي حلقو او تنظیمونو سره تعلق لرونکو او د پښتو ادب د کور کسانو ته دې دستوره کښي د ګډون بلنه ورکړے شوې ده.

MEMBER APNS | MEMBER CPNE | MEMBER FEC
Wahdat@pes.comsats.net.pk
ABC CERTIFIED
مونږ دپاره هم الله کافی دے او هغه تر ټولو بهتر مددګار دے (القرآن)
Daily wahdat Peshawar
چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد
ورځپانه
وحدت
پیښور
پاکستان
ایډیټر
سید هارون شاه
رجسټرډ پی نمبر ۲۷
بیعه 4 روپۍ
فون: 2214154 فیکس: 2214321
جلد: 31
پنجشنبه (زیارت)، 14 ربیع الاول، 1427ھ ق، 1 وساک، 2063 ب
13 اپریل 2006، 24 وری (حمل)، 1385ھ ش
شماره: 99

# دکبیرستوری فاتحه په ۱۵ اپریل اخستل کیږي

## په څلورم اپریل جرمنی کښې دارواښاد دژوند ډیوه مړه شوه



پیښور (وحدت خبر) دپښتو دنومیالی شاعر، ادیب او جرمنی کښې د پښتون سوشل ډیموکریټک پارټی دبانی مرحوم ډاکټر کبیر ستوری فاتحه خوانی داپریل په پنځلسمه په یونیورسټی روډ سپین جومات

باقی صفحه 5 کالم 5

**پاتې** فاتحه خوانی

کښې سحر د اتو بجو نه ماسپښین دوو بجو پورې کیږي. کومه کښې چې ټولو ملګرو اود پښتو شاعرانو، ادیبانو ته دګډون بلنه ورکړے شوې ده، مرحوم دتیرو څلور څلویښتو کالو راسې جرمنی کښې میشته ؤ. دې دوران کښې مرحوم دپښتو ژبې د ودې او پښتون قوم په یوپلیټ فارم جمع کولو کښې اهم کردار ترسره کړو. مرحوم دپښتون سوشل ډیموکریټک پارټی پی ایس ډی پی په بنیاد کیښودلو پردی وطن کښې دپښتون ثقافت او روایاتو حفاظت وکړو. مرحوم دشاعری

او روحیاتو په موضوع دیارلس کتابونه لیکلی دی چې علمی او ادبی حلقو کښې ورته لونې داد ترلاسه دے، ډاکټر کبیر ستورے تیر یو کال راسې د زړه په رنځ اخته ؤ. اوداپریل په څلورمه د زړه دورې نې د ژوند ډیوه مړه کړه. په ۷ اپریل دهغه مړے پیښور ته راوړل شو چرته نه چې خصوصی انتظاماتو سره کفن دفن کولو دپاره افغانستان کښې خپل پلرنی کلی کونړ ته ورسولے شو. دمرحوم په جنازه کښې دافغانستان حکومت د شمیر کسانو نه علاوه دعلاقې معززینو ګڼ شمیر کښې ګډون وکړو

MEMBER APNS | MEMBER CPNE | MEMBER FEC

Wahdat@pes.comsats.net.pk

ABC CERTIFIED

مونږ دپاره هم الله کافی دے او هغه تر ټولو بهتر مددګاردے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
وحدت

پیښور
پاکستان

ایډیټر
سید هارون شاه

رجسټرډ پی نمبر ۲۷

بیعه 4 روپۍ

فون: 2214154 فیکس: 2214321

شماره: 102

یکشنبه اتوار، 17 ربیع الاول 1427هـ ق. 4 ویساک 2063 ب
16 اپریل 2006، 27 وری (حمل) 1385 هـ ش

جلد: 31

# دډاکټر کبیر ستوری فاتحه سپین جومات کښې واخستل شوه

**دفاتحې مراسم کښې اجمل خټک، افضل خان، حاجی بلور، استاد صمیم او نورو ګڼو مشرانو برخه واخسته**

پیښور (پ ر) د پښتون سوشل ډیموکریټک پارټی د صدر ډاکټر کبیر ستوری فاتحه تیره ورځ سپین جومات کښې واخستل شوه. چې یکښې د اے این پی بزرګ مشر اجمل خټک، محمد افضل خان لالا، حاجی غلام احمد بلور، بشیر احمد بلور، میا افتخار حسین، سید عاقل شاه، تاج الدین، پیرفیاض علی شاه، ارباب طاهر، ملک مصطفی، ارباب محمد همایون خان، ارباب محمد نثار، قیصر خان ایډوکیټ، خیال اکبر اپریدی، محمد حنیف ایډوکیټ، فرید طوفان، استاد محمد اصف صمیم، ډاکټر شاه جهان، ارباب دوست محمد خان، لیاقت سیماب، وکیل غلام محمد صافی، محمد هاشم غمشریک، د افغان قونصلګری دوهم سکتر احمد سعید سعیدی، داریانا پوهنتون رئیس دانشمل، د افغان اسلامی اژانس رئیس محمد یعقوب شرافت، قومی مشر حاجی پیرمحمد ګردیوال، محمد عثمان زیارمل او دیو شمیر عالمانو، پښتنو شاعرانو، ادیبانو نه علاوه ګڼو دانشورانو او باریک بینو او سیاسی کارکنانو ګډون وکړو. په دې موقعه دمرحوم ډاکټر کبیر ستوری دبخښنې دپاره دعاوکړے شوه.

ورځپانه وحدت پیښور صفحه 7 16 اپریل 2006

MEMBER APNS | MEMBER CPNE | MEMBER FEC
Wahdat@pes.comsats.net.pk
ABC CERTIFIED
موږ د پاره هم الله کافي دی او هغه تر ټولو بهتر مددګار دی (القرآن)
Daily wahdat Peshawar
چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد
ورځپانه
وحدت
پېښور
پاکستان
ایډیټر
سید هارون شاه
رجسټرډ پي نمبر ۲۷
فون: 2214154 فیکس: 2214321
جمعة المبارک ،24ربیع الاول1428ھ ق،31جیټ، 2063، جلد نمبر 32
13 اپریل2007ء ،24وری (حمل)1386ھ ش، شماره 99، بیعه 5 روپۍ

## د ډاکټر کبیر ستوري یاد کښې سیمینار او مشاعره نن کیږي.

پېښور(پ ر) دعالمی پښتو کانګرس د بندوبست لاندې دمشهور ادبی شخصیت ډاکټر کبیر ستوری مرحوم په یاد کښې سیمینار او مشاعره نن کیږي .دې لړ کښې پرون دکانګریس اهمه غونډه وشوه. چې پکښې دغه دستورې له اخری شکل ورکړے شو. دستوره به پریس کلب پېښور کښې درې بجې شروع کیږي .دکانګریس غونډه کښې د ستر ادیب صاحب شاه صابر په مړینه د دیرغم او خفګان اظهار وکړے شو. اومرحوم د بخښنې دپاره دعا وکړے شوه.

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپانه پېښور

وحدت



# د کونړ "ستورې" پناه شو

لیک:: لائق زاده لائق

هو ماته یاد دي......

یوه ورځ ماته زما محترم مشر افضل خان لاله ووئیل، «هلکه سباله به زما یو ډېر درونډ او ګران مېلمه «ستورے» د جرمنی نه راځي. ته به خان هوائی ډګر ته په وخت ورسوي. چې په راتلو کښې ورته کوم کړاؤ پېښ نه شي». د لاله د دې وینا سره زما دذهن په پرده ډېر عکسونه الوول شول. خو ما پکښې د «ستوری» یقین ونه کړے شو. دا د کال ۱۹۹۲ خبره ده چې کله افضل خان لاله دکشمیر دچارو وفاقی وزیر ؤ. او زهٔ ورسره پرائیوېټ سکټر ووم. الوتکه سحر وختی داسلام اباد هوائی ډګر ته راورسېده.... او بیا دالمان د ښائستونو نه ستورے اسلام اباد ته راغے. دهغه کورودانې هم دهغه سره وه. ما دستوری په سترګو کښې حیاګانې ولیدې. دهغه په ژوند کښې مې «پښتو» ولیده. دهغه په فکر کښې مې قام پرستی محسوس کړه. دهغه ټول خوبونه او دهغه ټول کړهٔ وړهٔ ماته خپل خپل ښکاره شول. هم دغه وجه وه چې د وخت رفتار ستورے ماته رانزدې کړو او ما د هغه په خورو ورو پلوشو کښې دخان موندنې کوشش وکړو.

هغه دکونړ د خاورې ځلنده ستورے ؤ چې د وړومبی تعلیم نه پس سردار داؤدخان په دولتی توګه المان ته د پی ایچ ډی دپاره ولیږلو. هغه چې څنګه په خپله خاوره ښکاره ؤ. دغه شان نې په جرمنی کښې هم د ډاکټرۍ ډګری په امتیاز سره ترلاسه کړه.

دخپل وطن او خپلې خاورې نه لرې والی دستوری په مزاج کښې یوه پټه محرومی پیدا کړه. او چې کله هم دغه محرومی په لفظونو کښې ځای شوه نو ساندې ساندې شعرونه ترې جوړ شول. لکه د لوئې احمد شاه بابا دکونړ دغه «کبیرستوری» هم هره لحظه او هره لمحه دخپلې پښتنې خاورې ارمان وکړو. هغه دخپل ناقراره احساساتو د تکور دپاره په

> هغه یو باعمله پښتون ؤ. کله چې ورته د المان حکومت بیا بیا ووئیل چې ته دجرمنی پاسپورټ واخله نو هغه به وئیل چې زهٔ خپل افغانیت بدلولو ته تیار نهٔ یم.

المان غږ راډیو کښې دعملی ژوند ابتدا وکړه. دهغه مرکې، دهغه تبصرې او دهغه ویناګانې په هر ځا ښې ولګیدې او دغه رنګ دستوری خلا نوره هم سیوا شوه.

هغه هر وخت دپښتون قام په بده ورځ وژړل او چې کله نې دا ارمان را وپارېدو چې دپښتون قام دوحدت دپاره عملی ګام واخلی نو په المان کښې نې د پښتون سوشل ډیموکرېټک ګوند بنیاد کېښودو. د دې ګوند لویه فائده دا مینځ ته راغله چې هربې کوره او مسافرپښتون ته دسر سیورے ترلاسه شو. ډلې ډلې پښتانه ستوری نه راغونډېدل او په خپلو محرومیو او بدمرغیو به نې جرګې مرکې کولې.

ددغه ګوند غږ پښتونخوا ته راورسیدو. او بیا ددې منطقې ټول قام پرست مشران دستوری صیب په بلنه المان ته لاړل. او دغه رنګ کبیرستوری دبې کوره پښتنو دسیاسی بیدارۍ دپاره یو داسې کوشش وکړو چې بل کوم چا ئې سوچ هم نهٔ ؤ کړے. هغه به دفخر افغان باچا خان او دهغه د ټولې کورنۍ د غړو نه علاوه دنورو قامی مشرانو سره خپلې اړیکې ټینګې ساتلې. ولې په دې واړو کښې نې د افضل خان لاله سره د ورورۍ او کورکلی تعلق ؤ.

چې کله په افغانستان کښې حالاتو بیا بیا چورلکونه وخوړل نو ستورے په دې ډېر وردردیدو. هغه ټوله ټوله شپه وېښه تیره کړه او دافغانستان د بیاودانۍ سوالونه ئې وکړل. دا څکه چې هغه په خپل اولس او خپل قام مئین ؤ.

ښاغلے کبیرستورے دیو سیاسی لارښود سره سره یو قام پرست شاعر هم ؤ. ماچې کله د هغوی ځنې شعرونه دپښتونخوا دنومورو شاعرانو په اوازونو کښې دخورولو کارپیل کړو نو رو رو ستورے صیب دسیاسی مشرانو نه علاوه عام اولس هم وپېژندو. هغه چې کله هم پاکستان ته راغلے نو ډلې ډلې پښتنو شاعرانو ورسره ناستې وکړه. او دهغه دسیاسی فکر نه نې اثرواخستو. هم دغه ستورے ؤ چې دپښتو په نامه هر جوړیدونکی تقریب ته به په خصوصی توګه دالمان نه راتلو.

هغه په صحافیانو هم ډېر مئین ؤ او اکثر به ئې وئیل چې دا دپښتنو اصلی سترګې دی. چې خپل اولس ته لارښانی. دپښتنو صحافیانو هم دهغه سره یوه مینه وه. یو تعلق ؤ چې



THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپانه پېښور

وحدت

وحدت
چیف ایډیټرو پبلشر پیر سید سفید شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" د پاکستان د حکومت
په تصدیق د منظور عام پریس خیبربازار پېښور نه خپروي، ایډیټر پیر رحمدل شاه
ایډیټر: ظفرعلی شاه ګیلاني، پته:: ورځپاڼه وحدت 20 اسلامیه کلب بلډنګ
خیبربازار پېښور فون: ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵۴ فیکس ۲۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pak

## دخپل وطن او خپلې خاورې نه لرې والي دستوري په مزاج کښې یوه پټه محرومي پیدا کړه. او چې کله هم دغه محرومي په لفظونو کښې ځای شوه نو ساندې ساندې شعرونه ترې جوړ شول.

6 اپریل 2006

بنیادي محور ئې زمونږ درنه مور ((پښتو)) وه.

دښاغلي کبیرستوري درنې درنې خبرې ماته اوس هم ښې یادې دی. هغوی به وئیل چې زمونږ قامي بدبختي دا ده چې دیو کار پوره کولو نه وړاندې چغې جوړې کړو. کار سرته ونۀ رسی خکه چې زمونږ دحقونو دښمنان ددغه کار د وړاندې لار ونیسی خکه نو د وخت نه

وحدت

مخکښې چغې وهل خوندنۀ کوی لاقدم مو دعمل اخستے نۀ وی دمنزل درسیدو سندرې وایو هغه یو باعمله پښتون ؤ. کله چې ورته د المان حکومت بیا بیا ووئیل چې ته دجرمنی پاسپورټ واخله نو هغه به وئیل چې زۀ خپل افغانیت بدلولو ته تیار نۀ یم.

که هرڅو کبیرستوري دجرمنی په رنګینو کښې ساه ګانې اخستې خو د پښتونخوا مینې، دخپل وطن نه لرې والي هغه دزړۀ مریض کړو. یو کال وړاندې چې کله ډاکټرانو دهغه طبی معائنه وکړه نو ورته حیران شول چې دزړۀ دوه والونه ئې بې کاره دی. او ستورے بیا هم خپله خلانۀ کموی. ډاکټرانو ورته بیا بیا دعملیاتو (اپریشن) ووئیل خو دښاغلي کبیرستوري دعملیاتو نه کړکه وه. هغه به وئیل چې مړینه یم خو دې ته تیار نۀ یم.

او بیا هم هغسې وشوه چې کله هغه د ۳ اپریل ۲۰۰۶ ، په شپه دخپلو زامنو او خپلو نورو مینه والو سره په خندا خندا خبرې وکړې. نو چاهم دا ګمان نۀ شو کولے چې ګنې دا د کونړ دستوري اخري پلوشې دی. هغه لکه دنور کله په وخت اودۀ شو. خو دغه خوب ډیر ازغن ؤ. په ۴ اپریل ۲۰۰۶ ، سهار وختی هغه په خوب کښې ولړزیدو. کورودانې ورپسې منډه کړه چې معلوم کړی څه چل پرې شویدے. خو چې دمخ نه ئې ورله څادر پورته کړو نو دلونې فلسفي لیکوال شاعر ډاکټر کبیرستوري دواړه سترګې د خپل وطن په ارمان وازې پاتې شوې وې. دهغه د ژوند ملګرې هغه ته اوازونه کول. ولې دهغه ارماني ارماني تښتیدلی رنګ هغه ته وئیل چې:-

زما دژوند ملګرې
ستا په جذبو پوهیږم
ستا دلیمو په تل کښې
راغلې اوښکې وینم
خوغږ کولے نۀ شم
ماخو وئیل چې زۀ به
لا دژوندون په لاره
وړاندې ګامونه اخلم
دغه تالا پښتون به
چرته راتول ووینم
په خپل تالا هیواد کښې
به دسپرلو رنګونه
خوارۀ وارۀ ووینم
زما وړه "سحرا" ئې
به دوختونو سره
په لونیدو ووینم
زما "پتوال" به چرته
زما دسترګو وړاندې
خپل زلمی توب ووینی
زما پو [illegible]یال" به ماته
دخپل ژوندون سندره
په تته ژبه وائی
زۀ به "پختیان" په ژوند کښې
په لونیدو ووینم
زما "سلمی" او "نیکلا"
هم "ولوله" نیازبینه
به شې راپیغلې چرته
زما دا تول بچی به
مانه چاپیره ناست وی
"سمون" به هم یو خلې
ورې خبرې زده کړی
ماته به تول بچوړی
وائی بابا تۀ خفه کیږې
هدو چې غم ونۀ کړې
مونږه به تول لتانه
لکه سپرلی خاریږو
خو... زما دژوند ملګرې
ژوندون وفاونۀ کړه
زۀ د اولس غمونو
ډیر زورولے یمه
په خپل کونړ پسې زۀ
ډیر کړیدلے یمه
ما په پردی وطن کښې
چرته ایسار چې نۀ کړې
زما دروح په مرې
نورې چارې مۀ ږدئ
زۀ خپل وطن ته خمه
زۀ خپل وطن ته خمه

(واوښو کښې بند نومونه د ستوري صیب دنمسو دی.)

که یو خوا د ډاکټر کبیرستوري وازو سترګو دغه

باقی صفحه ۲ کالم ۱

پاتې: کونړ ستورے پناه شو

ساندې وئیلې نو بل خوا دهغوی په کور کښې ماتم جوړ ؤ. د هر چا په سترګو کښې اوښکو چوړلکونه خوړل. دغه اطلاع چې پېښور ته راورسیده نو دلته دهغه مشر زوې ډاکټر بصیرستوري نه یو دوه خطا شول هغه دخپل پلار...... په ارماني ژوند په چغوچغو وژړل. د هغه مشر ورور وکیل عبدالجلیل لکه دماشومانو رنې رنې اوښکې تونې کړې. هغه دومره قدرې ووئیل :-

(( دمرګ نه خلاصون نشته خو زما ستورے، زما کبیرخان ډیر ارماني مړ شو)) ....

دکبیرستوري د مرګ خبر په تول پښتونخوا کښې لکه د اور د لمبې خورشو. او دقام پرستانو مشرانو دلې دلې راحت اباد ته رواني شوې...... خلق به راخی، ویرونه به کیږی. ژړاګانې به کولے شی خو...... دپښتو ژبې دخدمت او عظمت هغه ستورے دهمیشه همیشه دپاره پناه شویدے. دچاپلوشې چې د المان نه ترلونې افغانستان پورې خوریدې په ګورنې نور شه (آمین).

وحدت
6 اپریل 2006ء

وحدت
چیف ایډیټر، چیف ایګزیکټیو او پبلشر پیر سید سفید شاه همدرد ورځپانه وحدت د پاکستان
د حکومت په تصدیق د ۸/نشتراباد روډ پېښور نه خپروي، وحدت یوه بې طرفه ازاده اود تولو
پښتنو دهیلو عکاسه ورځپانه ده چې دپاکستان اوافغانستان په شمول دنړۍ په هغو ټولو
هیوادونو کښې دټولو پښتو ورځپانونه زیاته لوستل کیږي چرته چې پښتانه اباد دی
Phone: 091-2214154 091-2214034 Fax 091-2214321
چیف ایډیټر: پیر سید سفید شاه همدرد ایډیټر: سید هارون شاه جوائنټ ایډیټر: سید رحمدل شاه
Website: www.wahdatdaily.com, E-mail: wahdat@pes.comsats.net.pk
پنجشنبه 13 اپریل 2006ء

# داروابناد ډاکټر عبدالکبیر ستوری روح ته

عرفان الله کوټوال

دادکوم اجل جرس وُ چې په غوږ مولګیدلے
چې دستورو له مداره مویوستورے غورځیدلے
یابه مونږه بدنصیب یو یاخدایه ستا رضاوه
ستا رضا ده ستا رضاده داموتاته دربخښلے
دپښتو دپټکی ول وُ دغرور یوه شمله وه
زمونږ ستورے داقبال وُ چې په سرمواوسیدلے
زمونږ لعل، زمونږه ګنج وُ دازمونږ دژوند رڼاوه
چې بغیر له ده ژوندون وے مونږ به ولې ژړیدلے
دابه څومره نیکمرغی وے چې دخپل ستوری رڼاته
موفرهنګ غیږې وهلے اویوبل ئې ځملولے
دابه فخر دابه ژوندوے چې یوستورے مو په لاس وے
داوړه وړه پښتو مولاس نیولې ګرځولے
دکوټوال به په تندی کښې رڼائی دستورونه وه
کنه ستوری به ترعمره موپه تنده ځلیدلے

MEMBER APNS | MEMBER CPNE | MEMBER FEC
Wahdat@pes.comsats.net.pk

مونږ د پاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مدد ګار دے (القرآن)

Daily wahdat Peshawar

چيف ايډيټر
پير سيد سفيد شاه همدرد

ورځپانه
وحدت

پيښور
پاکستان

ايډيټر
سيد هارون شاه

رجسټرډ ډي نمبر ۲۷

بيعه 4 روپۍ
فون: 2214154 فيکس: 2214321

| شماره: 130 | يکشنبه (اتوار)، 15 ربيع الثاني، 1427 هـ ق، 1 جيټ، 2063 ب<br>14 مئ، 2006، 24 ثور (غوائے)، 1385 هـ ش | جلد: 31 |
|---|---|---|

## دخداې بخښلي ستوري د
## څلويښتې مراسم په کونړ
## کښې ترسره شول

پيښور (پ ر) دافغانستان دکونړ په ولايت کښې تيره ورځ د ارواښاد ډاکټر کبير ستوري دڅلويښتې مراسم په خپل پلرني کلي دکونړ تنز کښې په خاصو مذهبي دهيواد منلے شخصيت مراسم ترسره شول ارواښاد ډاکټر کبير ستورے دپښتو ژبې شاعر، پياوړے ليکوال اودپښتون سوشل ډيموکريټک پارټي مشر و چې اپريل په څلورمه نيټه په جرمني د زړة دناروغي له کبله په حق رسيدلے و. اويه اووم اپريل په خپله پلرني هديره کښې خاورو ته سپارل شوے و. نوموړي پښتو ژبې، پښتو ادب اودپښتو دقامي وحدت لپاره نه هيريدونکے خدمت کړے دے. دخداې بخښلي دڅلويښتې په مراسمو کښې دهيواد نوموړو شخصيتونو، دکونړ دسيمې مشرانو، علماء اوعامو خلقو ګډون وکړو. او د ډاکټر کبير ستوري لپاره ئې دمغفرت دعا وکړه. اوقران عظيم الشان په ختم کښې ئې برخه واخسته.

# د ډاکتر کبیر ستوري د لومړي تلین پر مناسبت د وحدت ورځپاڼې ځانګړې ګڼه


ورځپاڼه وحدت 13 اپریل 2007

وحدت

د ډاکتر کبیر ستوري

د لومړي تلین په مناسبت ځانګړې خپرونه

مدثر شاه

میا فاروق فراق

د پښتنو د قامي وحدت نه ستړې کېدونکې مبارز

ډاکتر کبیر ستورے

The special edition of Wahdat newspaper on the occasion of the first anniversary of the late Dr. Kabir Stori.



ورځپانه وحدت پېښور (۵) ۱۳ اپریل ۲۰۰۷

دارواښاد کبیر ستوري دسیاسي، ادبي، کلتوري او ټولنیزو خدماتو په اعتراف دبېلابېلو شخصیاتو تاثرات

او اوچت ؤ. دستوري درنها
یو اړخ نه ؤ بلکي هر لوری او
هر اړخ تـه دهغه درنها
پلوشي خورې وې. په
علـم اوپوهـه کښي
پـس... ایـچ
دی ؤ ...
هغه هم په
ساپوهنه کښي. شاعر ؤ ادیب ؤ
ژورنالست ؤ مصنف ؤ او دټولو
نه زیات بي کچه قام پرست ؤ
په رښتیا چي کبیر ستورے
ؤ دهغه قام(پښتون) په کال
۱۸۹۳ء کښي فرنګیانو
څلور ټوټي کړو او هغه
تـه دخپل اولـس ددي
تقسیم پوره پوره
احساس ؤ هغه
پوهېدلو چي
دهـغـه

شی خو دا ارمان نې پوره نه شو.
البتـه دوحدت دحصول په لاره نې
دومره زنها غورځولې وه چي زما
یقین دے چي دوحدت دا مرام به
ډیر زر ترلاسه شی هاغه لوستی
پښتانه چي دوحدت خبري ته غوږ
نه اینـودو دستوری دهغه
دملګـرو پـه
کـوشـشـونو هغه
نن په ... دي وینا مجبور
دی چي ... دپښتون افغان
قـام ... دمسـائلو حل
دقامی ... وحدت نه بغیر نه
شـی ... کیدے.

رحمت شاه سائل

دوه خبـري پـه پښتنو
کښي ډيـري مشهـوري
دی او دغـه دواړه خبري
دپښتنو دژوند معیار
او دسرېتوب معیار
جوړوی یـا ټاکی. یوه
خبره دا چي خلق وائی
سل دي ومره یو دي مه
مره او دویمه دا چي په
خوږ کښي هر کـله سپر نه وی.
محترم ډاکټر کبیر ستورے په
دي دواړو خبـرو پـوره ختلے ؤ

دویمـه خبره دا ده چي په پښتنو
کښي هـر سړے دراتي خاوند نه
وی ددۀ لـوني والـے دا ؤ چي دے
دراتي خـاوند ؤ او ددې قـام، ددې
خاوري، ددې پښتو ژبي دپاره به
ددۀ فعـالیتونه تل خلق یادوی او
ددۀ دجلباتو کار او عمل تسلسل
به راروان وی.

زاهد هیوادمل

ستـورے دنورو افغانانو او دپښتنو
او بلـوڅـو داستـازیـو پـه ملتیا په
فېډرال المان کښي دپښتنو او بلوڅو
دسرنوشت موضوع سرېښت ته پرې
نه ښودو او په دې لاره کښي چي څه
ممکن وو دۀ دخپلو نورو ملګرو په
مرستـه او ملګرتیا له دې امکاناتو
څخه په دې لاره کښي ګټه اوچته
کړه دنلستو میټنګونو مجلو او
ورځپانـو لـه لارې نې په دې برخه
کښي قلمونـه اوچت کړل، مونږ
دکبیر ستوری دغـه ټول شریفانه
ملی هڅو ته دقدر په سترګه ګورو.

ډاکټر فضل رحیم مروت

لـوني پښتـون ښاغلـے کبیر
ستوری صیب تـه زۀ دیو لوني
پښتـون پـه سترګه ګورم. څکه
چي هـغـه نه صرف دلېر او بر
پښتـون درد پـه کښي وو، بلکي

هغه دقلمي جهاد نه راواخله تر
عملي جهاد پورې دپښتون قام د
یو والـی او ښیګړې دپاره کـار
کولو. هغه که نن زمونږ په منځ
کښي نشتـه خو دهغه قلم او فکر
زمونږ دلارې رهنمـا او لارښود
دے خداې دې دښکلیو جنتونو
سردار کړی. امین

افضل خان لاله

ستـورے پـه ونـه لـوړ نه ؤ خو په
عزم او ارادو دتاترې نه ډېر دنګ
قـامي وجود نشته. ستوري دا
ارمـان لـرلو چي د پښتون قـام
وحدت دهغه په ژوند کښي حاصل

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

MEMBER APNS

پیمه کلور (4) اولی

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپاڼه وحدت پېښور

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

ورځپاڼه وحدت پېښور (۷) ۱۳ اپریل ۲۰۰۷ء

**نظیم راز**

کبیر ستورے اول او اخر پښتون ؤ خو سوسیال ډیموکریټ پښتون ؤ پښتو ئې وئیله، لیکله لوستله او کوله دپښتو معنی ورتلله، دپښتونولی په مفهوم پوهیدلو او دپښتون په صفاتو ښائسته وه ځکه په عمل کښې ئې هم ټول ژوند دپښتو او پښتون دپاره ؤ حقیقت دا دے چې هغه ژوندے په پښتو او پښتون ؤ پښتو او پښتون ئې په وجود کښې روح تازه ساتلو او په پښتو او پښتون کښې ئې ساه غړیدله .حقیقت دا دے چې داسې شصخیتونه نۀ مری دهغه متحرک او مقناطیسی شخصیت دهغه په هر لیک او تخلیق کښې نن هم دخپل وجود ګواهی کوی، دهغه قومی خدمات او قائم کړی پښتنی روایات نن هم دپښتون اولس فکری او تهذیبی رهنمائی کوی.

**پروفیسر عبدالرسول امین**

دکبیر ستوری مړینه دافغانستان او په مشخصه توګه پښتنو او کونړ لپاره لویه ضائعه ده.

**ډاکټر راج ولی شاه خټک**

ډاکټر کبیر ستورے یو ښۀ معیاری شاعر ؤ دښکلی شعرونو مجموعې ئې چاپ کړی دی . شعر ئې هم دلولس دقامی شعور راپیدارولو دپاره لکه چې وقف کړے ؤ . . دومره مینه دومره پیرزوئنه خو سوچه، ښاغلی او حقیقی پښتونَ کولے شی .او ډاکټر کبیر ستورے هم داسې یو کلک دخوانې جذبې خاوند پښتون ؤ .اوس کۀ هغه په وجود نشته خو یاد او تاثر ئې دغرونو او سردرو په ګړنګونو او سرونو خور دے او شاید چې تر څو پښتو ژبه ژوندۍ وی نو ستورے به دتلین نه پسته هم دپښتونخوا په افقونو پلوشې خورې لری.

**قیصر خان ایډوکیټ**

کبیر ستورے ډیر لوئې پښتون ؤ .فکرونه او خیالونه ئې ټولو نه بیل بیل وو .پخپل قام باندې ډیر زیات مئین ؤ په ټول یورپ کښې په رښتیا ستورے ؤ دپښتون قوم یو والے دهغه دژوند مقصد ؤ. دا مبارز زما ډیر نژدې دوست ؤ.

**محمدالله جان برق**

ما ډاکټر کبیر ستورے صیب په ورومبی ځل دپښتو عالمی کانفرنس په وخت لیدلے ؤ هغوی چې کله ماته خپل یو کتاب چې په نفسیاتو باندې لیکل شوے ؤ راکړو هغه کتاب چې ما ولوستو زۀ ډیر زیات خوشحاله شوم او داسې احساس راته وشو چې په پښتنو کښې هم داسې پوهان او دانشوران شته چې په داسې مهمه او حساسه موضوع پخپله خوږه ژبه پښتو کښې لیکل کوی. دنفسیاتو کتاب لیکل څه عامه خبره نۀ ده نو زۀ دا ګڼم چې دکبیر ستوری وفات دپښتنو او پښتو ژبې لپاره نۀ هیریدونکے زیان دے. خدای دې وکړی چې دهغوی دا منزل نور پښتانۀ پوهان وړاندې بوځی .

**مختیار احمد یوسفزے**

خدای بخښلی ډاکټر کبیر ستورے په رښتیا یو ستورے ؤ او دهغوی بې وخته ددینا نه تلل، پښتو ادب او مونږ ته ډیر نقصان دے او زۀ دا غم په لفظونو کښې نۀ شم احاطه کولے.

**شمیم شاهد**

داروانښاد ډاکټر کبیر ستوری مړینه دټولو پښتنو ډیر غټ زیان ګڼم .محترم ډاکټر صیب دپښتنو دیو کیدلو لپاره ډیرې مبارزې کړې دی او پښتون قوم به ددوی دغه هلو ځلو ته دقدر په نظر ګوری او یاد به ئې ساتی.

**زرعلی خان موسی زے**

اروانښاد کبیر ستورے دپښتون قلمی وحدت یو داسې خلائده ستورے ؤ چې ددغه ستوری درنا نه به پښتون قلم همیش همیش دپاره فائده اخلی .هغه دیو همه ګیر شخصیت خاوند ؤ چې خپل ټول ژوند ئې خپل قلم ته وقف کړے وو کۀ دادب میدان ؤ یا دپښتون قلم مسیلسی ګټو حاصلولو دپاره هلو ځلو ځلې وؤ کبیر ستورے په ډیره ایماندارۍ او پښتنه مینه .دخپل قلم خدمت ته ملا تړلې وه. نن خو کبیر ستورے زمونږ نه په جسمانی توګه جدا شو خو هغه دپښتون قلم دابدی او سیلسی خدمتو په سبب همیش دپاره مونږ سره دے .او هغه خدمات به دټل دپاره دیو قلمی سیلستمدار او ادیب په توګه یادو ساتلے شی.

**اسدالله دانش سابی**

خدائې بخښلے ډاکټر کبیر ستورے دپښتو ژبې یو رښتینے خدمتګار ؤ زما ورسره څو څو ځله لیدل کتل شوی وؤ .ډیر حلیم، نرم ، اخلاقی او خوږ انسان ؤ ما سره ئې دپښتو او پښتونولی تار شریک ؤ .زما او د ډاکټر صیب دا رشته شریکه ده. زۀ په خدای بخښلی حتماً ګران ؤم ځکه چې دے په ما ډیر ګران ؤ. له لوئې خدای نه ورته دبخښنې او مغفرت دعا کوم.☆☆☆

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

بيعه څلور (4) روپۍ

د پنج شنبې زيارت ورځ ... (سنبله) ۱۳۷۶ هـ ش 6 اپريل 2006

جمعرات 6 اپریل 2006

## دقمرزمان طائزي او ډاکټر کبیر ستوري په مړینه دسلیم بنګش غمرازي

پېښور (پ ر) دپښتو ادبي چمن تل روح روان سليم بنګش پخپل اخباري بيان کښې دپښتو ادب د دوو ځلندو ستورو قمرزمان قمر طائزي او جرمنی کښې د پښتو دنامتو قوم پرست ليکوال کبير ستوري پۀ مړينه دډېر غم او خفګان اظهار کړيدے

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپاڼه

پېښور

ورځپاڼه

وحدت

چیف ایډیټر

پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

6 اپریل 2006ء

# دهمیش ملګری هنګامي تعزیتي غونډه

## دډاکټر کبیر ستوري او قمرزمان طائزي په مړینه دغمرازۍ څرګندونه وشوه

پیبو (وحدت خبر) دهمیش ملګری تنظیم یوه هنګامي تعزیتي غونډه پرون دتنظیم دصدر ډاکټر میاسهیل انشاء مشرۍ کښې وشوه. چې پکښې استاذ همیش خلیل، حنیف خلیل، شیراحمد خلیل، جوهر خلیل،

باقي صفحه 2کالم 7

**پاتې: همیش ملګری غونډه**

مهر خلیل، مذکر شاه خلیل، محمد امین اؤ شهاب ملازي ګډون وکړو غونډه کښې دپښتو ژبې دستر لیکوال او روان شناس ډاکټر کبیر ستوري او دنومیالي شاعر ادیب قمرزمان قمرطائزي په مړینه د ژور غم درد او خفګان څرګندونه او دعا وکړې شوه. چې الله تعالی دې دمرحومینو مغفرت او غمژنو کورنیو دزړه صبر نصیب کړي، غونډه کښې دپښتو ژبې ،ادب او تاریخ د ودې په لړکښې د دواړو مرحومینو خدماتو ته زرینې پیرزوینې وړاندې کړې شوې

ورځپاڼه وحدت

چیف ایډیټرو پبلشر پیرسید سفیدشاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" دپاکستان دحکومت په تصدیق دمنظورعام پریس خیبربازارپیښورنه خپروی، **ایډیټر** پیررحمدل شاه **ایډیټر**: ظفرعلی شاه ګیلانی، **پته**:: ورځپاڼه وحدت20 اسلامیه کلب بلډنګ خیبربازارپیښور__ **فون** : ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵٤ **فیکس** ۲۱٤۳۳۱

*Emile: wahdat@pes.comsats.net.pak*

ورځپاڼه وحدت پیښور (۲) ۱۳ اپریل ۲۰۰۷

# خداي بخښلی ډاکټر کبیر ستوری

لیک: مبارز ځاپی

یونانـي نامـتو پـوه اوفیلسـوف ارستو وائي هر سیاسي ګوند یا ډله تپله له آره دروغجن او ولس غولوونکـی دی دغـه خبره چې د عمل په ډګر کې تل رښتیا ختلی په تاریخ کې هم د هغه د رښتیا تـوب پـه هکلـه د ټولـو سیاسي ګوندونـو چـال چلـند ګواهـی ورکوي د نړۍ په هیڅ یوه ګوټ کې به تر اوسه پوري داسې کوم سیاسي ګونـد یـا ډلـه تپلـه ونـه لیدله شي چې هغه به د مبارزی په مهـال کې خپـل ولـس تـه کومـه وعـده ورکـړی وي بیا پـر هغـی وعدی به دواکمنی په مهال کې ټیـنګ ولاړ پاتـی شـوی وی او همدارنګه هیڅ چیرته هم څوک داسې سیاسي ګوند یا ډله نه شي په ګوته کولی چې هغه به د خپل ولس د ګټو په لیاره کې ځان قربان کـړی وي مګـر دغـو سیاسـي ګوندونو او ډلو ټپلو هر کله او هر چیرته د خپلو ګوندي او سیاسي ګټو او موخو لپاره خپل ولس د قرابانی د ګډي په څېر وندې وندې کـړی دی مونږ پـه دی تیـرو شـل دیرشـو کلونـو کې د خپـل ګـران هـیواد افغانسـتان د پیښـو دعـا ملیـنو پـه چـال و چلـند کې پـه پرانیـستو سترګو ولیدل چې هر سیاسي ګونـد او تنظیم د خپلو ګوندي او تنظیمـی نـاوړو موخو اوګټو د تر لاسـه کولـو پـه لیـاره کې ئې د خپل هیواد او ولـس ټول انسـاني ، مادي او منعوي شتمني تباه او د خپل منځیو دښمنیو په اورکې وسوزل مونږ ولیدل د کینې لاسو ډلو ټپلو تر منځه د څوکۍ او واکمنـی پـر سـر جګـړو کې

ځیمره انسانان ووژل شول او بیا څـرنګه اړ شـول څـو د شـوروي اتحاد د پوځونو په رابللو د خپلو سیاسي موخو د تر لاسه کولو په لیاره کې هلی ځلی وکوي او په هماغه توګه مـو هم د ښي لاسو تنظیمونو او ډلو ټپلو ځان پلورل ، وجدان پلـورل او ایمـان پلـورل ولـیدل او پـه پـای کې مـو دا هم ولیدل چې د دین ، ایمان، اسلام او د خـدای د لـیاری مجاهدیـنو څنګه وکولای شول چې د اشتی نامنوونکو دښمنا نو سره یو ځای شي او بي ګناهو انسـانانو پـر سرونو میخونه ټک وهي، د مړیو پـر نڅـا او د بـي ګناهو ښـځو او نجنو د تـیو پر پـریکولو فلمونه جوړ کړي دا مـو هـم ولـیدل چې هماغو د مذهب پتنګانو ، د جهاد د لـیاری سر تیرو او د اسلام یو نیم زر کلن ټیکه دارنو د څوکۍ او پر هیواد باندی د نیمه واکمنۍ د تـر لاسـه کولـو پـه موخـه څنګه وکـولای شـول د امـریکا ئـي 52 دولـه بمـي الوتکـو تـر سیوری لاندی په کابل کې راټول او یو ځل بیا د ولـس پر لوټولو او د هـیواد پـر چورولـو بوخـت شـي دا ؤ د سیاسي ګوندونو او تنظیمونو د چال چلند کاذب اړخ او دروغجنه څهره، خو مونږ په داسې حال او لا پـه داسې چاپیریال کې د پښـتنو ټولنیزولسـولیز ګوند پـه نامـه هم پـه جرمـني کې یـو سیاسـي ګونـد لـڅلو، چې دغـه ګونـد د خـدای

بښـلي ډاکتر کبیر سـتوری تـر مشری لاندی خپلی چاری سمولی او پـر مـخ بـیولې دا یواځنـی سیاسي ګوند ؤ چې په هیواد کې د ټولو ګوندونو او تنظیمونو غیر انساني چال چلند به ئې غندلو او د هغـوی پـام بـه ئې پـه ورځنـیو چارو کې انساني اړخ ته را اړولو. او دا یواځنی سیاسي ګوند ؤ چې د سیاست په تاریخ کې په لومړي ځل د خپلو هـیواد والـو لـپاره د انسـاني او اخلاقـي مرسـتو درسـولو پـه لـیاره کی لـه خپلو سیاسي موخو سترګی پټی کړلی، یعنی د سیاست په ډګر کی خدای بښلی ډاکتر کبیر ستوری یواځنی سیاسي سرېتوب ؤ چې د سیاست په تاریخ کې ئې د دروغو او دوکو پر ځای د رښتیا ویلو او انسـاني کړنو کلک ملاتړ او پلوي وکړله ډاکـتر سـتوري یواځنـی سیاسـی سـرېتوب ؤ چې وی نـه غوښـتله لکه د نورو سیاسي ډلو ټپلو په څیر خپل ولـس له خپله ګونده قربان کړي مګر دا ئې پـه عمل کې وښوده چې ګوند باید د ولس د ګټو پـه لیاره کې ځار شي هغه چې پـه سیاسـت کې د انسـاني کرامت او شرافت د خوندي ساتلو پلـوی ؤ د تـل لـپاره بـه یې د انسـانیت د ارزښـتونو د خونـدي ساتلو پـه ملاتړ د سیاست د پلي کولو پر پلوي ولاړ دریځ لاره، او دابـه ئې نـه لوروـله چې د چـا انسـاني حقوقوتـه د بـل چـا د سیاسـي ګټوـله املـه تـاوان ورسـیږي.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
ABC CERTIFIED
په ټول ملک کښې د پښتو وروميې ورځپاڼه
MEMBER APNS
ورځپاڼه
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
پېښور
وحدت
چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد

## ادب پاڼه

ترتيب: خاکسار اپريدے

وحدت

## قاسم علي اپريدی پښتو ادبي ټولنه

د قاسم علي اپريدی پښتو ادبي ټولنې دره ادم خيل مياشتنۍ غونډه په ۳۰ اپريل ۲۰۰۲ء د مياشتې د اخری اتوار په ورځ سحر نهه بجې په عزيزخان مارکيټ دره بازار دره ادم خيل کښې د سراج صافي په حجره کښې د حاجی حميد گل حميد اپريدی په صدارت کښې وشوه په دې موقعه پروفيسر المردلسوز اپريدے مشر ميلمه ؤ غونډه د شاه پور اپريدی له خوا د تلاوت کلام پاک سره شروع شوه د نظامت چارې مراد علی مراد ترسره کړې او د تيرې غونډې روداد ئې هم واورولو. غونډه کښې په يو تعزيتی قرارداد کښې د مرحوم ډاکټر کبير ستوری په مړينه او د ډاکټر شيرزمان طائزی د ورور قمرزمان طائزی په مړينه د

باقی صفحه 4 کالم 8

پاتې قاسم علی پښتو ادبی ټولنه

ډير زيات غم او خفگان د څرگندونے ورد مرحومينو د مغفرت دپاره الله تعالی نه دعا وغوښتے شوه. په اخر کښې يوه غير طرحی مشاعره وشوه چې پکښې ممتاز غمگين اپريدی. گل عمر عمر اپريدی، ډاکټر نواب اپريدی، مراد علی مراد، سليمان اثر اپريدی، شاه پور اپريدی. پروفيسر المردلسوز اپريدی او حاجی حميد گل حميد اپريدی خپل خپل کلامونه واورول.

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو وړومبی ورځپاڼه

پېښور

ورځپاڼه

# وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

16 اپریل 2006

## آریانه پښتو ادبي جرګه

د اریانه پښتو ادبي ټولنې یوه غونډه د جمعې مبارکې په ورځ د حاجي طوفان په حجره کښې د ښائسته ګل ایوب په صدارت کښې وشوه. د غونډې باقاعده اغاز نعمت الله صدیقي د تلاوت کلام پاک د څو مبارکو ایتونو د تلاوت څخه وکړو. د نظامت چارې مدد ګل علي خیل ترسره کړې. په دې موقعه د غونډې مشر میلمه دین محمد فریاد ؤ. په اخره کښې یوه ازاده مشاعره وشوه چې پکښې پیر ګل شاعریار، عرافات ګل، صابر خاخي، مدد ګل علي خلیل، نجیب الله څرګند، حاجي طوفان، مبارک جان، ښائسته ګل ایوب، نظیر ورک، دین محمد فریاد، اختر محمد سودائي، امین رحمان خوشبخت، نعمت الله صدیقي، رفیع الله خاخي، نورک مجبور او نسیم الله ګران خپل خپل کلامونه واورول. په اخره کښې د ډاکټر کبیر ستوري په مړینه د زړور غم او خفګان څرګندونه وشوه.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو وړومبې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چيف ايډيټر : پير سفيد شاه همدرد

16 اپريل 2006

## ظهير پښتو ادبي جرګه

د ظهير پښتو ادبي جرګې يوه درنه غونډه د جمعې په ورځ د اپريل د مياشتې په اوومه نېټه كال ۲۰۰۲ء د نادرا په پخواني دفتر كښې ماذيګر څلور بجې د نامتو اديب او شاعر طارق حيران په صدارت كښې وشوه. د نظامت چارې زاهد خان شيدا ترسره كړې او د تيرې غونډې روداد نې هم واورولو. د غونډې باقاعده اغاز سعدالله خان بليغ د قران پاک د څو مباركو ايتونو د تلاوت څخه وكړو. په دې موقعه رحمت شاه خاموش مشر ميلمه ؤ. غونډه په دوؤ برخو مشتمله وه په وړومبې برخه كښې ملګرو د پښتو ژبې د نامتو شاعر قمرزمان طانزي او ډاكټر كبير ستوري په مړينه د ژور خفګان څرګندونه وكړه. جرګې د ډاكټر كبير ستوري او قمرزمان طانزي د بخښنې د پاره په ګډه دعا وكړه. په دويمه برخه كښې يوه غير طرحي مشاعره وشوه چې پكښې طارق حيران، غلام سرورخان، شيرعلي درياب، فدامحمد مجبور، زاهد خان شيدا، سعدالله خان بليغ، رحم دادخان، فياض شاداب، محمد عادل، مشرف شاه هلال، جابرخان ملنګ، سراج عارف، شمير اپريدي، راحت شاه

باقي صفحه 5 كالم 8

ظهير پښتو ادبي جرګه

بدربخاري، صنوبر كاكا، سفيرالله ناشاد، رحمت شاه خاموش، اخترتنګيال، ياسين شيدا، امين خان، احسان جلبل، عابدخان، ارشدانګار، فضلُ واحد واحد، لياقت علي لياقت، منورشاه ګوهر، شفيع الزمان او حكيم خان اپريدي برخه واخسته. د ظهير پښتو ادبي جرګې راتلونكې غونډه به د مئي د مياشتې په وړومبې نيټه د مزدورانو د نړيوالې ورځې په مناسبت ماذيګر درې بجې كيږي.

وحدت
ورځپانه وحدت پېښور
(۳) ۲۲ اپریل ۲۰۰۷
یکشنبه(اتوار) ۲۲ اپریل ۲۰۰۷ء

## د اروابښاد کبیرستوري په یاد کښې مشاعره

د پښتو عالمي کانګرس په اهتمام د نامتو شاعر، ادیب اروابښاد کبیرستوري په یاد کښې یوه ستره مشاعره وشوه چې پکښې ډاکټرجهانزیب نیاز، احمدعلي عاجز، اکبرعلي فقیر، فهیم بنګش، غلام محمودشهاب، ګلزاده کوثر، قابل شاه لیوني، زاهدخان زاهد، امجدعلي خادم، خان باتور، شهاب الدین ایډوکیټ، ګل محمدمسرور، جمشید مومند، شبیردراني، میافاروق فراق، ارشدخان شاهکار، معظم خان معظم، عبدالحلیم حلیم، اخترمنیرمنیر، شاه احمدښکاري، حاجي قندهاراپریدي، حیات روغاني، ودودهشنغري، عرفان الله کوټوال، شفیع الله زهیر، خورشیدثاقب، امین غفارامین، مهرمحمدمهر، محمدهمایون هما، سیدکمال کمال، محمد سعیدراحت، خالدامین غازي، شهاب بنوڅي، فدامحمدمجبور، محمدجبارجبار، محمدعالم عالم، ډاکټرفضل دین خټک، اقبال حسین افګار، سیدرسول ناسایه، اکبرعلي فقیر او ډاکټریاسین خلیل خپل خپل کلامونه واورول.

موږ د پاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مدد ګار دے (القرآن)

**Daily wahdat Peshawar**

چیف ایډیټر
پیر سید سفید شاه همدرد

ورځپانه
# وحدت

پېښور
پاکستان

ایډیټر
سید ہارون شاه

رجسټرډ ایل نمبر ۲۷

ABC CERTIFIED

فون: 2214154 فیکس: 2214321

بیعه 4 روپۍ

| | | |
|---|---|---|
| جلد: 31 | جمعة المبارک، 8 ربیع الاول 1427ھ ق 25 چیتر 2062 ب<br>7 اپریل 2006، 18 وری حمل 1385ھ ش | شماره: 94 |


## ډاکټر کبیر ستوري خدمتونه به تل یاد ساتلے شي. حاجي شرافت

پېښور (وحدت خبر) د افغان اسلامي اژانس رئیس حاجي محمد یعقوب شرافت د نومیالي ادیب شاعر او اروا پوه ډاکټر کبیر ستوري په وفات د غمرازۍ یو پیغام کښې وئیلي دي چې د پښتو ژبې او ادب لپاره به د ډاکټر کبیر ستوري خدمات تل یاد ساتلے شي. دهٔ ووئیل چې موږ دې لوئې غم کښې د اروابناد کورنۍ سره برابر شریک یو. او د لوئې خدای په دربار کښې لاس په دعا یو چې اروابناد کبیر ستوري ته جنت الفردوس او کورنۍ او دوستانو ته ئې صبر جمیل نصیب کړي.

ورځپانه
پېښور
وحدت

ورځپانه وحدت پېښور (۳) ۲۳ اپریل ۲۰۰۷

# پښتون کبیر

لیک: محمد پرویش شاهین

د تاریخ په اوږدو کې چې د پښتنو په کور تل عمری چې د زور او اور د هڅو او ورکو، راوواهه او راکاږه، تالا کړه او ترغه کړه، لوړ شه، خنجر شه، توپک شه او لانچر شه، دې ورک کړه، زمکه ئې ورکه کړه، کلتور ئې له مینځه یوسه او فرهنګی شتمنی ئې د اورونو د لمبو خوراکه کړه او بیا لا هم د غیرتی او پتمن قام په دې خپله خاوره سره د خپلې ژبې او کلتور څه ژوندی غوندې پاتې دی نو دا خو که معجزه نه وی نو کرشمه خو خامخاده.

ځکه چې د دارانه واخله تر ننه پورې په دې غیرتی هیواد د هرې خوا داور زور اوویښو دریابونه راوبهیدلی شول څوک وائی ما ومنه او خپله خاوره راته پریږده څوک وائی د خپل تاریخ او کلتور خبرې پریږده او زما دا خپل کړه څوک وائی زما سیاست قبول کړه زما فسلفه خپله کړه، زما مسلک راتینګ کړه او د خپلې ژبې څخه لاس په سر شه او زما ژبه خپله ژبه وګرځوه.

خو ددې انسان دښمنه خلقو یکی یوه دسیسه پلمه، پروپیګنډه او هڅه کامیابه نه شوه ولې؟

ځکه چې ددې تنګیالی خاورې، تنګیالی اولس هر سخته زغمی، د غلیم په مخکې هر یو وخت ډال کیږی سر ورکوی خو سنګر نه ورکوی ډیره په ګرانه ئې ګټی خو ډیره په ویړیا تو ګه ئې د خپلې ژبې په ساتنه پالنه او روزنه لګوی دغه وجه ده که وطن ئې هر وخت میوند میوند هم شی خو بیا هم دی بریالی پاتې کیږی او ولې نه چې زلمی ئې خو دی زلمی، په وخت ئې باتور نظره پیغلو هم په سنګرونو ښنګرې مات کړی او مورچلونه ئې راتینګ کړی دی دغه خو وجه ده چې د بابر او د بادر خبرې لاړې د افغان قیصه باقی ده کوهستان کې په دې وطن پاله زامنو کې یو پتمن زوی پښتون نامه د کبیر ستوری په نوم پیژنی څوک چې لکه دایلم د غره اووه مخونه لری چې هر یو ئې د ځلا، ښکلا، نور، او حیا ډک او د ستاینې وړ دی ډاکټر کبیر ستوری په رښتیا چې ډیر اړخونه لری او په هر اړخ کې ښه کامیاب او بریالی دی ډاکټر دی ساه پوهه دی، دانشور دی، ادیب دی، شاعر دی، او یو سیاسی مشر هم دی نثر هم لیکی او نظم هم او دواړه ډیر ښه لیکی د نورو ډیرو کارونو څخه پرته ئې د پښتو ادب په ګلستان کې لس اته داسې ګلونه لګولی دی چې که یو خوا ددغه ګلونو رنګونه جدا جدا دی نو داسې ئې خوشبویائې هم جدا جدا او ډیرې معطرې دی څه هم که موضوع ګانې ئې یوازې نوې بلکې ډیرې ګرانې هم دی خو لکه چې د لوئې افغانستان د لوئی کونړ، دا شهزاده د خپلې ژبې، لهجې، او پاکې او اسانی پښتو په راقابو کولو بریالی دی نو دغه وجه ده چې دغه ګرانې موضوګانې ئې دومره اسانی کړی دی چې لوستونکی ترې خوند او فائده او چترلی شی دلته زه د لوئی کبیر په هغه لوئی فن اوارت بیرت میدان نه شم غږیدلی، زه چې د ډاکټر صاحب د کوم شی نه ډیر زیات متاثره یم په هغې یو څو کرښې وړاندې کوم د تولو نه جوت او غښتلی مقام چې ډاکټر کبیر ته په برخه شوی ؤ هغه پخپله خاوره خپله ژبه، خپل قام، خپل تاریخ او خپل کلتور یوه لیونی مینه وه. او هم دغې شیانو زه د ډاکټر صاحب مریدی ته چمتو کړی وم ځکه چې دا د هغوی لوئی ارمان ؤ چې یوازې دا ساهو قام دې هسکه غړی نه وی ورسره دې د خپلې شتمنی، د خپل سیاست، د خپل کلتور د خپلې ژبې او خپلې خاورې او خپل اختیار ښتن دې وی او دده نامه دی د نړی په قامونو کې ځلانده وی دغه وجه ده چې ډاکټر صاحب فقط دا رزوګانو او خواهشونو سړی نه ؤ د عمل د میدان شهسوار ؤ او په هر توګه ئې ددې قام خدمت، په ژبه، په قلم، په ګوندونو او غونډو جوړولو، په سیمینارونو، په مشاعرو، جلسو میلو، اتنونو او پروګرامونو کړیدی څه هم که د کور کلی او هیواد څخه په زرګونو میلونو لرې ؤ. خو دا وطن، پت او پښتو ته ډیر نږدې ؤ او هیڅ کله ئې د وطن غمیزې او له دې بیا سرودانی څخه زړه اړولی نه دی کله چې به هم په بر هیواد اویا کوز هیواد کې د پښتنو د قامی وحدت څخه غونډه وه او که د ژبې او کلتور څه کانفرنس، سمینار او غونډه وه نو مونږ به لا د سوات نه پیښور ته نه وو رسیدلی چې ډاکټر به سره د خپلو ګلالو او پتمنو زامنو اغیرتی ملګرو د پښتنو په پیرس پیښور کې موجود ؤ او دا پکې لا بله، چې میلمه به دې ؤ او په ډیره پښتنی مینه او د موسکا نه په ډکه خله به ئې غاړه تر زما چا پیره او پخیر به ئې راته ووئیل د ډاکټر صاحب لکه چې په عام ژوند کې خوږه خله ئې د مسکا ډکه، مینه ئې له امو پراخه او دمازغو کاسه ئې لکه د اباسین ارته بیرته وه چې پخپله لویه سینه کې ئې ډیر سیندونه، خوړونه، چینې او ابشارونه رایو ځائې کړی وو زړه ئې د هر پښتون، ددمې کور ؤ او



ورځپاڼه پېښور
وحدت
۱۳ اپریل ۲۰۰۷ء

پښتون کبير

هره خبره ئې د پوهې او شعور ډکه وه بې شکه د لوئى زړه څښتن ؤ د زمرى هومره زړه او تاترى هومره حوصله ئې درلودله او بغير د څه ويرې ترهې، لالچ او دسيسې خپله خبره په ډاګه کوله که هغه به په ستيج وه او که قلم په ژبه دغه وجه وه چې لويى کبير د هر پښتون او بيا خاص کر دليکوالو په زړه کې ځان ته د مينې، محبت او احترام يوه لويه پلازمينه جوړه کړې وه او د هر چا به دا خيال ؤ چې کبير هم فقط د ده دى د کبير سياسى هلوځلو د پت پښتو ډک مزل د هغه نه د قطب ستورى جوړ کړى ؤ چې ماغوندې ډيرو ډيرو پرې خپل منزل ته د مزل لارى تاکلى ما ورته په پېښور کې د زامنو په مخ کې د ډيورنډ په دې ورستى پروګرام کې جولى وغوړوله چې ډاکتر صيب که زما سره سوات ته زما جونګړې ته لاړ شې په دې نه يم چې ستا ميلمستيا به وکړم په دې يم چې سباله به تاريخ دا خبره يادوى چې دا جونګړه که هر څو خواره و زاره ده خو بيا هم د فخرا او افتخار وړ ده ځکه دې ته د پښتو لوئى پښتون، لوئى فلسفى، لوئى دانشور کبير ستورى دراتلو شرف بخښلى ؤ يو شيبه ساکوته غوندې شو وئيل شاهين صاحب نوره خبره به وروستو وکړم خو زما دا غټ ارمان دى چې د شاهين صيب په شان مې د خبرو کولو چل زده کړى وى دا د هغوى لوئى پيرزوينه وه ګنې زه د هغوى په ډيرو شاګرانو کې يو کمزورى غوندې شاګرد وم خو هغه د چا خبره که خاورې هم اخله نو د لوئى

ډيران څخه ئې اخلى او کله چې بيا ما د هغوى د کوچ سپيره خبر واوريدو نو بې هوشه شوم دغه وخت د کور کلى ډير لرې په ګلګت کې وم چې هغې درنې جنازې ته ئې رارسيدل هم يوه ناشونې خبره وه او دغه شان زما دا سپيره خونه، سپيره پاتې شوله بره کرښو کې لکه چې ذکر شوى دى چې د هغوى د ليک او کار ډير اړخونه دى خو زه ئې د قام پرستى د جذبې نه ډير متاثره يم حالانکې ډاکتر صيب دې لړ کې متعصب نه دى انسان دوست دى، د هر بشر وده او ښه غوارې

زه جهان يوه توته يم بيليدلى ترې نه شم
داسې به کړم چې هم خما هم د جهان خوښيږى

پښتون چې د ډاکتر صيب د وينا او هلوځلو مرکز دى وائى

پښتو، پت، ننګ، ننګره، تنوره او وفا ده
چې ورزيات کړى ننګ پښتون ترينه

جوړيږى چې د پښتون څوک غور کوى او غم ئې خورى د کور به ورله د مخکې نه ارومرو غم کوى کبير وائى

دا ستورى نه زما جوړه کړه
چې ئې پښتون نو پښتونخوا جوړه کړه

اوددې د پاره د يو سوچه قامى وحدت ضرورت او اړتيا ده بغير له دې څه نه کيږى ځکه خو کبير صيب وائى پښتون قامى وحدت په لورى ستورې سره خمه دا لاره که اوږده ده خو مزل ئې لنډوې د قام، قامى وحدت د پاره يوه تره، کلکه، مامور او شتمنه ژبه ډيره ضرورى ده. خو پښتنون اولس خپله ژبې څخه لويه بې غوره کړې ده هسې چغې سورى وهى عملى ګامونه نه اخلى


وحدت
www.wahdatdaily.com, E-mail: wahdat@pes.comsats.net.pk
چيف ايډيټر، چيف ايګزيکټيو، پبلشر پير سيدسفيدشاه همدرد سديس پرنټرز B-A نشترآباد پېښور نه چاپ اوخپروى.
چيف ايډيټر: پير سيدسفيدشاه همدرد، ايډيټر: سيدهارون شاه، جوائنټ ايډيټر: سيد رحمدل شاه
وحدت دټولو پښتنو دهيلو عکاسه ورځپاڼه ده. چې دپاکستان او افغانستان په شمول دنړۍ په ټولو هاغو هيوادونو کښې لوستل کيږى. چرته چې پښتانه اباد دى.

# قدرت














ډېر ژر...!
د ډاکټر کبیر ستوري لېسې (۵۰) پنځوسمې کالیزې
لمانځغونډه.
د خاص کونړ ولسونه


ورځپاڼه
باني: پیر سید سفید شاه همدرد
وحدت
ایډیټر: سید هارون شاه
پېښور